# د کلمې شریفې حقیقت

لیکوال:
مولانا محمد منظور نعماني

ژباړن:
عبد المالک (همت)

**د کتاب نوم:** د کلمې شریفي حقیقت

**د کتاب فارسي نوم:** حقیقت کلمه طیبه

**لیکوال:** مولانا محمد منظور نعمانی

**ژباړن:** عبدالمالک (همت)

**موضوع:** توحید او الهیات

**د چاپ شمیر:** لومړي (دیجیتال)

**د چاپ تاریخ:** سلواغه ۱۳۹۵ هـ ش - جمادي الأول ۱۴۳۸ هـ ق

**سرچینه:**

**دا کتاب د عقیدې د کتابخانې سایت نه داونلود شوی دی.**

**www.aqeedeh.com/pa**

**برښنا لیک:** **book@aqeedeh.com**

**د موحدینو ګروپ ویب پاڼو**

www.mowahedin.com www.aqeedeh.com

www.videofarsi.com www.islamtxt.com

www.zekr.tv www.shabnam.cc

www.mowahed.com www.sadaislam.com

**په عقیدې سایت کې ددغه کتاب خپرول، دهغه د ټولو محتواوو سره دسایت د همغږۍ په معنا نه ده.**

contact@mowahedin.com

بسم الله الرحمن الرحیم

# د کتاب فهرست

**د کتاب فهرست ........................................................أ**

**د دوهم چاپ سریزه ............................................... ۱**

**د ژباړن سریزه........................................................ ۳**

**د کتاب د مؤلف په هکله لنډي څرګندوني ............................ ۶**

(أ) ژوند او تحصیل یې: ........................................ ٦

(ب) علمي مقام، درس ورکول او مباحثې یې: ................. ۷

(جـ) تالیفات یې: ................................................... ۷

(د) وفات یې:......................................................... ۸

**کلمه طیبه (لا اله الا الله محمد رسول الله) د کلمې طیبې لومړی برخه: د لوی څښتن توحید (لا اله الا الله) .........................................۹**

د توحید حقیقت او د (لا إله إلا الله) مطلب..................... ۱۲

د عربو د مشرکینو شرک او له هغو څخه د توحید د دعوت غوښتنه .................................................................۱۳

د عبادت او استعانت یو له بله اړیکي............................۱۷

د توحید لومړی پوړی.............................................. ۱۹

د توحید نوري غوښتني............................................ ۲۰

د توحید لوړه پوړی................................................. ۲٤

د بشپړ توحيد نخښې او پايلې ........................................... ۲۶
د توحيدپه هکله اوسپنيز عزم او د انقلاب ځواک .............. ۲۷
د بشپړ توحيد تر مقامه د رسېدو لومړنی نصاب ................. ۳۰
**د کلمې طيبې دوهمه برخه: د حضرت محمد ﷺ رسالت (محمد رسول الله) ............................................................................ ۳۵**
حضرت محمدﷺ د اللهﷻ رسول دی .......................... ۳۵
د يو چا د رسول په توګه د منلو موخه او د هغه لوازم........... ٤٤
د لوی ښبتن د رسولﷺ سره مينه او محبت................... ٤٩
**د ژباړن لنډه پېژندنه ............................................... 52**

د دعوت د کلمې (لا اله الا الله محمد رسول الله) د دواړو برخو؛ د لوی څښتن ﷻ د توحید او د حضرت محمد ﷺ د رسالت د بشپړي تشریح او څیړني سره.

دغه راز د دغي کلمې د روح او حقیقت د واضح کولو په ترځ کي څرګنده سوې ده چي دغه کلمه له خپلو منونکو څخه څه غواړي.

# د دوهم چاپ سریزه

د لوی څښتن تر حمد او پر حضرت محمد او د هغه پر آل او اصحابو باندي تر درودونو او سلامونو وېلو وروسته.

لکه چي څرګندېږي پر ګران اسلامي هیواد افغانستان باندي د امریکایي او لوېدیزو سیکولرو، عېسویانو او یهودو تر هجوم او تېري وروسته، د نړۍ مسلمانان، په تېره د افغانستان مسلمان ولس تر پخوا زیات وینښ او په هره ساحه کي د ګران اسلام او اسلامي اورشوګانو د ننګي او دفاع لپاره لاس په کار سول. ځینو د وسله وال جهاد مورچلونو ته ورودانګل، ځینو د تبلیغ او دعوت چاري چټکي کړې، ځینو هم خپل مغزونه او قلمونه تر پخوا ډېر زیات په کار واچول او نوروهم نوري هلي ځلي په لاره واچولې. په دې توګه د هري برخي ننګیالي ډېر سول، خو د کتاب لیکلو، کتاب خپرولو او کتاب لوستلو اتلان او مینه وال ماشاءالله خورا ډېر سوي دی. له دې امله دی چي په نړۍ، سیمه او افغانستان کي د کتاب خپرولو او د هغه د پېر او پلور کاروبار خوا په خوند او مزه کي روان دی.

له بلي خوا دا دی ګورو چي د نیواکګرو او د هغو د ګومارلو حالت ډېر وجاړ سوی دی، اړیکي یې ترینګلي سوي او د اشغالګرانو سرونه له خپلو لاسپوڅو څخه په درد سوي او ځني بې زاره سوي او له افغانستان څخه د وتلو په تکل لاري چاري لټوي.

په هر ترتیب موږ به خپلو کارونو ته په نه ستړي کېدونکې توګه دوام ورکوو او مخ په وړاندي به ځو.

رابه سو د دې کتاب خبري ته. دا کتاب چي يو کال دمخه خپور سو، اوس په کتاب پلورنځيو کي خلاص سوی دي او د هغه خپروونکو (صداقت پرندويي ټولني) د هغه د بيا خپرېدو تکل کړی دی. ځکه نو ما دغه کتاب بيا وکوت او بيامي خپرېدو ته چمتو کړ او اوس دادی د هغه دوهم چاپ ستاسي په لاس کي دی.هيله ده ګران لوستونکی يې مؤلف، ژباړن او خپرندويان له دعا هېر نه کړي. په درناوي.

**عبد المالک همت، د ده افغانانو**
**نوآباد، کابل د ۱۳۹۰ل. کال د**
**سلواغې درويشتمه**

# د ژباړن سريزه

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على خير خلقه وعلى آله واصحابه اجمعين. لا إله إلا الله ولا نعبد إلا إياه مخلصين له الدين ولو كره المشركون. الله أكبر الله أكبر لا إله إلا الله. لا إله إلا الله. حقاً حقاً. لا إله إلا الله. إيماناً وتصديقا. لا إله إلا الله. عبوديةً ورقاً.سجدت لك يا رب تعبداً ورقاً لامستنكفاً ولا مستكبراً بل أنا عبدٌ ذليلٌ ضعيفٌ خائفٌ مستجيرٌ.

محترم لوستونكې!

دغه کوچنی کتاب چې د هند د نيمي وچې يوه ستر او نامتو عالم او متصوف، د حق او حقيقت د لاري پياوړي مجاهد او مبارز، لوی او منلي محقق علامه محمد منظور نعماني رحمه الله ليکلی دی، د اسلام د يوې ډېري بنسټيزي او زياتي ارزښتناکي موضوع په هکله دی. ليکوال په لنډو الفاظو کي د اسلام د مقدس دين د مبارکي کلمې «لا اله الا الله محمد رسول الله» په هکله ډېر داسي غوره او په زړه پوري مطالب را غونډ کړي دي چې په اوسمهال کي، کوم چې له هري خوا پر اسلام او اسلامي امت د غليمانو فرهنګي او عقيدوي يرغل په خپل ټوله زور او ځواک سره روان دی، د هر مسلمان لپاره د هغو لوستل او وربانديې پوهېدل زښت زيات اړين ښکاري.

د دې کتاب له ژباړلو څخه زموږ موخه دا ده چې زموږ پښتمن خلک د اسلام د دغي ستري کلمې په مزاياوو او ارزښتونو سره خپل

ذهنونـه لا روښـانه کـړي، د لا زيـاتي بشـپړتيا او همتنـاکۍ پـر لـور وخوځي او له يوه ستر پروردګـار پرتـه د هـر بـې ارزښـته موجـود پـه وړاندي سر ټيټ نه کړي. څُوله بې له خدايه د بل چا پـه وړانـدي پـه غوړه مالۍ او ثنا او صفت خلاصه نه کړي او انساني او اسلامي سـتر ارزښتونه د هر ټيټ ساکښ پښو ته ونه غورځوي.

ليکوال په ډېرو ساده او عـام فهمـو الفـاظو او لنـډو جملـو راوړلـو سره د توحيد د دغي منلي کلمې دواړي برخي تشـريح کـړي دي چـي په دې هکله يې خپله دنـده پـه ډېـره ښـه توکـه ترسـره کـړې ده، لـوی څښتن ﷻ دي اجر ورکړي.

زه هيله من يم چي د دې وړوکي کتاب ژباړه لوسـتونکو تـه ګتـوره او د لوی څښتن په وړاندي د منلو وړ وګرځي. البته که زما ژبـاړه هـم د ليکوال د ليکني غوندي ساده او عام فهمه وي د ډېري خوښۍ ځای به وي، خو کـه نـه وي او د پيـاوړي ليکـوال موخـه او مطلـب مـي پـه روانو جملو کي نه وي افاده کړي دا نو زما نيمګړتيـا ده چـي هيلـه ده را ويې بخښئ.

د لته بايد يادونه وکړم چي دغه ارزښتناک کتابګوټی يوکال دمخه په کوټه کي ښاغلي حمدالله صحاف د خپرولو لپاره راځخه واخيست خو هغه دا دونه عمر دغه کتاب او زموږ څو نور کتابونه د ځـان سـره ساتلي وه او چاپ يې نه کړل. بـالاخره يـې د نـه خپرولـو عـذر خپلـه ناروغي او اقتصادي ضعف وښود.

بيا صداقت خپرندويي ټولني د دې او نورو ټولو کتابونو د چاپولو کار په ورين تندي پر غاړه واخيست. چي دادی د دې ټولني په همت د دغه کتابګوټی ژباړه ستاسي ترلاسونو درورسيده.

له لوی څښتنﷻ څخه هیله من یم چې موږ ټول پر سمه لار برابر کړي او خپل رحمت او مغفرت را باندي ولوروي.

**عبدالمالک همت، پیرمحمد کاکړ واټ، دربیمه ناحیه، کندهار، د ۱۳۸۸ ل. کال د غبرګولي شپږویشتمه**

## د کتاب د مؤلف په هکله لنډي څرګندوني

### (أ) ژوند او تحصيل يې:

دغه د حجم له مخي کوچنی خو د محتوا له مخي ډېر ارزښتناک کتاب ستر او نامتو عالم مولانا محمد منظور نعمانيؒ ليکلی دی.

حضرت مولاناؒ په پنځلس کلنۍ کي په ۱۳۳۸ هـ. ق. کال د منطق، فلسفې، او کلام زيات شمېرکتابونه په هندوستان کي له مفتي محمد نعيم لدهيانويؒ څخه ولوستل. په ۱۳۴۳ هـ.ق. کال د ديوبند دارالعلوم ته شامل سو. او تر ۱۳۴۵ هـ. ق. کال پوري يې موقوف عليه دوره او د حديثو دوره پای ته ورسول او له امام العصر حضرت علامه محمد انور شاه کشميريؒ څخه يې حديث پوهنه زده کړه. علامه محمد انور شاه کشميريؒ يو داسي ستر او نامتو عالم وو چي په هکله يې د هغه هممهالي حضرت مولانا شبير احمد عثمانيؒ فرمايلي دي:

«الشيخ التقي الذي لم تر العيون مثله ولم ير هو مثل نفسه ولو كان في سالف الزمان لكان له شأن في طبقة أهل العلم عظيم» (فتح الملهم ۱/ ۳۳۵).

يعني علامه محمد انور شاه کشميري داسي پرهېزګاره مشر عالم دی چي د انسانانو سترګو يې ساری نه دی ليدلی او د هغه پخپله هم د ځان انډول نه دی تر سترګو سوی. که هغه په تېرو مهالونو کي وای د پوهانو په منځ کي به يې ستر ځای درلودای.

## (ب) علمي مقام، درس ورکول او مباحثې يې:

په ۱۳٤٦ هـ. ق. کال يې په محمديه مدرسه کې تدريس پيل کړاو څو موده يې هلته کار ته دوام ورکړ. بيا په امروهه نومې ځای کې په يوه مدرسه کي تر دروکالو د تدريس په چارو بوخت سو. دغه مهال هند د ډول ډول کورنيو او باندنيو توطئو سره لاس او ګرېوان وو. په دې پېر کي د «قاديانيت» نهضت چي له ختم نبوت څخه يې انکار کاوه، رامنځ ته سو او د «برېلويت» فتنه چي د بدعتونو او خرافاتو پر بنسټ ولاړه وه نوې راښکاره سوه. مولانا څو واره د دغو باطلو ډلو د لارښوونکو او پيروانو سره مناظرې وکړې او په روښانو دلايلو يې ملامت کړل.

د ۱۳۵۳هـ. ق. کال د کوچني اختر په مياشت کي يې د «الفرقان» په نامه علمي او څېړنيزه مياشتنۍ مجله د «بريلي» په ښار کي راوايستل. چي په اسلامي علمي کړيو کي يې زښت زيات محبوبيت وموند.

«الفرقان» مجلې خپلي دوې ګڼې حضرت مجدد الف ثاني رحمه الله او شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله ته ځانګړې کړې چي د عالمانو او پوهانو د بې ساري هرکلي سره مخامخ سوې.

مولانا نعماني رحمه الله په ۱۳٦۳هـ.ق. کال د ديوبند د دارالعلوم د عالي شورا د غړي په توګه وټاکل سو او په ۱۹٦۲ع، کال د رابطۀ عالم اسلامي د غړي په صفت غوره سو.

## (جـ) تاليفات يې:

مولانا نعماني رحمه الله په بېلو بېلو اسلامي موضوعاتو کي ډېر کتابونه

او رسالې ليکلي دي. چي ډېر يې په بېلو بېلو ژبو ژباړل سوي دي.

د ده له مهمو کتابونو څخه يو هم معارف الحديث دی چي په اتو ټوکونو کي ليکل سوی دی، دغه ستر اثرپه بېلابېلو موضوعاتو کـي د حضرت رسـول ﷺ د احـاديثو سـتره ټولګـه ده چـي د مولانـا نعمـاني لخوا پر هر حديث باندي مغتنمي ژباړي او علمي شنني سوي دي.

## (د) وفات يې:

علامه نعماني د ۱٤۱۷هـ.ق. کال د لوی اختر په مياشت کي چـي د ۱۹۹۷ع.کـال د اپريـل سـره سـمون خـوري تـر ۹۰ کـالو ژونـد، خدمتونو او د باطلو ډلو د پيروانو سره په مبارزه کي د لکنـوو پـه ښـار کي وفات سو اروا دې ښاده وي.

## کلمه طیبه (لا اله الا الله محمد رسول الله) د کلمې طیبې لومړۍ برخه: د لوی څښتن توحید (لا اله الا الله)

له اللهﷻ پرته بل هیڅ معبود نسته؛ یعني لـه لـوی څښـتن څخه ماسوا بل هیڅوک د عبادت او بنده ګۍ وړ نه دی.

ملـت بیضـا تـن و جـان لا إلـه — ســازما را پــرده گــردان لا إلــه
لا إلـــه ســـرمایۀ اســـرار مـــا — رشـــتۀ شـــیرازۀ افکـــار مـــا
حرفش‌ازلب چون بدل‌آیدهمی — زنـدگی را قـوت افزایـد همـی

توحید د دین بنسټ او د ایمان روح دی، او د ټولو انبیاوو لخوا د هغو امتونو ته لومړنی پیغام هم همدغه توحید دی.

قا ل الله تعالی:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ ٢٥﴾ [الأنبیاء: ٢٥].

ژباړه: «موږ چې تر تا دمخه هر پیغمبر لیږلی دی، هغه ته موږ همدغه وحي کړې ده چې له ماپرته بل خدای نسته، نو تاسي همدا زما بنده ګي وکړئ».

او د انسان نېکمرغي او بدمرغي او ژغورنه او هلاک د دغه توحید په منلو او نه منلو او د هغه سره سم په تللو او نه تللو اړه لري. رسول اللهﷺ یوه ورځ صحابه وو ته وفرمایل:

دوه شیان واجبوونکي دي. چا ورته وویل: «یَا رَسُولَ اللهِّ مَا الْمُوجِبَتَانِ» (ای د لوی څښتن استازې کوم دوه شیان واجبوونکي دي؟) هغهﷺ

وفرمایل: «مَنْ مَاتَ لَا يُشْرِكُ بِاللَّهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ مَاتَ يُشْرِكُ بِاللَّهِ شَيْئًا دَخَلَ النَّارَ» (مسلم).

یعني: چا چي په لوی څښتن پوري شریک نه وي نیولی او مړ سي جنت له به داخل سي. او چا چي په لوی څښتن پوري شریک نیولی وي او په دغه حال کي مړ سي دوږخ ته به ننوزي.

په یوه بل حدیث کي دي:

«حَقَّ اللَّهِ عَلَى الْعِبَادِ أَنْ يَعْبُدُوهُ وَلَا يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَحَقَّ الْعِبَادِ عَلَى اللَّهِ أَنْ لَا يُعَذِّبَ مَنْ لَا يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا» (بخاري او مسلم).

یعني: د لوی څښتن حق پر بنده ګانو دادی چي د هغه عبادت وکړي او د هغه سره څوک شریک نه کړي. او د بنده ګانو حق پر لوی څښتن باندي دادی: چا چي په ده پوري څوک شریک نه وي نیولی عذاب ورنه کړي.

په یوه بل حدیث کي دي:

«مَا مِنْ عَبْدٍ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ ثُمَّ مَاتَ عَلَى ذَلِكَ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ» (بخاري او مسلم).

یعني: کوم بنده چي (لا اله الا الله) ووایي (یعني توحید د خپل دین په توګه ومني او پر هغه تر پایه ټینګ سي). او پر دغه حال ومري جنت ته به داخل سي.

یو ځل رسول الله ﷺ حضرت ابو هریره رضي الله عنه ته وویل: ولاړ سه او چي داسي څوک ومومې چي:

«شْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهُ بَشَّرَهُ بِالْجَنَّةِ» (مسلم).

یعني: چي په (لا اله الا الله) سره شاهدي وایي او د زړه له تله

يقين پر لري، هغه ته د جنت زېرى ورکړه.

دغه راز له حضرت عثمانؓ څخه روايت دى چي رسول اللهﷺ وفرمايل:

«مَنْ مَاتَ وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ» (مسلم).

يعني: څوک چي مړ سي او پوهيږي چي پر لا اله الا الله باندي يقين او باور لري، نو جنت ته به داخل سي.

له حضرت معاذؓ څخه روايت دى چي يوه ورځ رسول اللهﷺ وفرمايل:

«مَفَاتِيحُ الْجَنَّةِ شَهَادَةُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ» (رواه احمد).

يعني: د ﴿لا اله الا الله﴾ شهادت د جنت کيلۍ دي.

حضرت ابوبکر صديقؓ وايي ما يوه ورځ له رسول اللهﷺ څخه وپوښتل: مَا نَجَاةُ هَذَا الْأَمْرِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ قَبِلَ مِنِّي الْكَلِمَةَ الَّتِي عَرَضْتُ عَلَى عَمِّي فَرَدَّهَا عَلَيَّ فَهِيَ لَهُ نَجَاةٌ» (رواه احمد).

يعني: په دې دين کي د ژغورني ځانګړې نقطه څه ده؟ هغه وفرمايل: څوک چي زما راوړې کلمه (لا اله الا الله) ومني، کومه چي ما خپل اکا ابو طالب ته وړاندي کړه خو ويې نه منل، هغه به يې د ژغورني لامل سي.

خو له دې احاديثو څخه بايد داسي مطلب وانه خيستل سي چي بس مازي د (لا اله الا الله) په ويلو او د توحيد په اقرار کولو سره موږ د ژغورني مستحقين او دجنت اجاره داران کيږو. بلکي د دې احاديثو موخه يوازي داده چي د ژغورني تر ټولو ستر او لومړى شرط همدغه توحيد دى او له دې پرته ژغورنه ګردسره شونې نه ده. نو چا

چي د توحید دغه بلنه ومنل، د ژغورني دغه ستر شرط یې پوره کړ او د شرک له امله چي د ژغورني او جنت دروازه په قطعي توګه پر بنده وه، هغه اوس د توحید په منلو سره پر پرانیستل سوه. پاته سوه پر دې سربېره نور شرطونه، مثلاً پر رسول ﷺ باندي ایمان، د آخرت پر ورځ ایمان او د دین مهمي غوښتني، لکه لمونځ، زکات او نورو اداینه، نو د هغو معامله خپل پر ځای بېله ده او په قرآن او سنتو کي پر خپلو خپلو ځایونو باندي د هغو شرایط هم په بشپړ وضاحت سره بیان سوي دي. په نورو الفاظو داسي هم ویلای سو چي د (لا اله الا الله) منل او توحید قبلول په حقیقت کي د بشپړ دین د قبلولو او اختیارولو یو سرلیک او عنوان دی او له دې امله د دغو احادیثو مطلب دادی چي چا (لا اله الا الله) ومنل، یعني چا چي دغه بشپړ دین ومانه چي بنسټ یې همدغه د (لا اله الا الله) کلمه ده نو هغه به هرو مرو جنت ته ورومي.

لنډه دا چي په دغو احادیثو او داسي ډېرو نورو نصوصو کي په بشپړه څرګندتیا سره بیان سوي دي چي د ژغورني ټول دار مدار پر توحید، یعني د (لا اله الا الله) د پیغام پر منلو او هغه د خپل ژوند په بنسټ جوړولو باندي دی.

## د توحید حقیقت او د (لا إله إلا الله) مطلب

خو د دې توحید په حقیقت او د (لا اله الا الله) په مطلب باندي د پوهېدو لپاره تر ټولو دمخه باید دا په ذهن کي کښېنول سي چي تر کومه ځایه چي د لوی څښتن په ذات او د هغه د خلق او ایجاد او د نړۍ د تدبیر (یعني د دنیا د پیدا کېدو او د دې نړۍ د کارخانې د

چلېدو) په صفت پوري اړه لري، نو د عربو هغو مشرکینو چي رسول الله ﷺ تر ټولو دمخه د توحید پیغام ورته وړاندي کړ، هم له دې کبله لوی څښتن «وحده لاشريك» باله. یعني هغو داسي عقیده څرګندول چي لوی څښتن چي د دې نړۍ پیدا کوونکی دی په خپل ذات کي بالکل یو او بې شریکه دی. هغه مځکه او آسمانونه او ټول کاینات پیدا کړي دي او هغه د نړۍ دغه ټوله کارخانه چلوي. قرآن مجید د عربو د مشرکینو دغه اقرار او اعتقاد څو ځایه نقل کړی دی. وګورئ د یونس سوره څلورمه رکوع، د مؤمنون سوره پنځمه رکوع او د عنکبوت سوره شپږمه رکوع.

## د عربو د مشرکینو شرک او له هغو څخه د توحید د دعوت غوښتنه

خو د دې سره سره، څنګه چي هغو په عبادت[1] کي کوم چي باید یوازي د لوی څښتن لپاره وي، خپل نور له ځانه رامنځته کړي معبودان هم شریکول او هغه یې حاجت روا او مشکل کشا ګڼل، د

۱- دلته له عبادت څخه مراد او موخه دانسانانو هغه ځانګړي اعمال دي چي د هغو په تر سره کولو یو څوک اله او معبود او د ګټې او تاوان مالک او مختار وګڼي. د هغه په وړاندي خپل ایمان او اړتیا او ذلت او ټیټتیا څرګنده کړي، څو هغه خوشاله سي. دغه اعمال عبارت دي له لمانځه، روژې، حج، خیراتونو، سجدې، طواف، دعا، نذرونو، قربانۍ او داسي نورو څخه. له دغو اعمالو څخه که کوم یو له لوی څښتن څخه پرته بل چاته وي نو د هغه ترسره کوونکی د قرآن کریم له مخي قطعاً مشرک دی.
د نړۍ په زیاترو مشرکو ولسونو کي دغه شرک پاته سوی دی او شرک في العبادات دغه ته وایي. انبیا علیهم السلام زیاتره د دغه شرک پر ضد جنګدلي دي.

خپلو ځانګړو اړتيا وو او ستونزو د ليري کولـو لپـاره بـه يـې هغـو تـه دعاوي کولې او مرستي به يې ځني غوښتې. چي له دې امله مشـرکين ګڼل کېدل[١].

١- څرګنده دي وي چي لوی څښتن چي په دې عالم اسباب کي په ځينو شيانو کي څه ځانګړني ايښي دي، مثلاً په اور کي يې د تودوښي، په اوبوکي يې ديخنۍ او تندي ماتولو ځانګړني ايښي دي يا يې مثلاً په توره کي د پرېکولو وړتيا نغښتې ده، نو که له دغو شيانو څخه په دغو موخو کاروا‌خيستل سي دا هيڅکله د توحيد منافي نه ګڼل کيږي. بلکي دا کټ مټ الهي منشا ده. لوی څښتن فرمايي:

﴿هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ لَكُم مَّا فِى ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعًا﴾ [البقرة: ٢٩].

ژباړه: «لوی څښتن هماغه ذات دی چي ستاسي لپاره يې د ځمکي ټول شيان پيدا کړل».

پر دې بنسټ چي لوی څښتن په دې عالم اسباب کي خپلو ځينو بنده ګانو ته مجازي ځواک او وړتيا ورکوي، مثلاً ځواکمن ته دا وړتيا ورکوي چي د بې وزلو مرسته او ننګه وکړي يا مثلاً واکمنو او پاچهانو ته د واک او حکومت داسي ځواک وربخښي چي له ظالمانو څخه د مظلومانو غچ واخلي يا درملګرو او ډاکټرانوته دا وړتيا ورکوي چي د ناروغانو درملنه وکړي يا يې ځيني کسان د دې وړ ګرځولي چي نورو ته د لوی څښتن په حضور کي دعاوي وکړي او داسي نور. نو د اسبابو او مسبباتو په لړ کي له دغو وګړو څخه په دغو چارو کي مرسته ترلاسه کول، لکه چي په نړۍ کي په عامه توګه رواج لري هيڅکله شرک نه بلل کيږي. بلکي دا د توکل خلاف خبره هم نه ده.

له غير الله څخه هغه استعانت (مرسته ترلاسه کول) شرک باله سي چي د لوی څښتن لخوا د اسبابو او مسبباتو د دغي رامنځته سوي سلسلې څخه لوړ کوم څوک د ګټي او تاوان مالک او مختار او با اختياره فاعل وبلل سي. لکه

په هر صورت د عربو د جاهلیت د دورې له تاریخ او د قرآن کریم له سلګونو آیتونو څخه معلومیږي چې د هغو ستر شرک همدغه دوه ډوله وو؛ یعني یو په عبادتونو کې شرک (شرك في العبادات) او بل په مرستو کې شرک (شرك في الاستعانت). نو چې رسول الله ﷺ هغو ته د (لا اله الا الله) پیغام وړاندې کړ، د هغه لومړی غوښتنه له هغو څخه دا وه چې کوم لوی ښتن چې تاسې د دې دنیا په پیدا کېدو او د هغې په چلولو کې «وحده لا شريك» بولئ د عبادت او استعانت تعلق هم په هغه پورې ګڼئ. له هغه پرته د بل چا لمانځنه مه کوئ، بل څوک حاجت روا مه ګڼئ او د خپلو اړتیاوو او ستونزو په لیرې کولو کې له هغه پرته بل څوک مه بلئ. دا د رسول الله ﷺ د بلنې لومړنۍ غوښتنه وه، او دا هغه د خپل دین د بنسټ او اصل او اساس په توګه وړاندې کول. لوی ښتن په قرآن کریم کې فرمايي:

---

چې بت پالان له خپلو بتانو څخه او ډېر جاهل او خدای نه پېژندونکي وګړي له خبیثه ارواوو او جناتو او شیطانانوڅخه او ډېر په نامه مسلمانان له اصلي یا نقلي ولیانو، شهیدانو او د دوی له زیارتونو څخه خپل مرادونه غواړي او د خپلو موخو او مقاصدو د ترسره کېدو لپاره هغو ته دعاوې کوي او د دغه مشرکانه اعتقاد پر بنسټ د هغو د خوشالۍ لپاره نذرونه او نور عبادتونه کوي. نو څوک چې له الله تعالی پرته د بل هر مخلوق سره دغسې یوه کړنه وکړي او په دغسې چارو کې له هغه څخه مرسته وغواړي، هغه بېله شکه مشرک دی. حضرت شاه ولي الله دهلوي رحمه الله په خپل نامتو کتاب «حجة الله البالغه» کې د شرک او توحید په بحث کې په ډېر وضاحت سره د «استعانت» د دغو دوو ډولونو توپیر بیان کړی، او موږ چې دلته څه لیکلي دي د هغه لنډیز دی.

﴿قُلۡ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمۡ فِي شَكّٖ مِّن دِينِي فَلَآ أَعۡبُدُ ٱلَّذِينَ تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِنۡ أَعۡبُدُ ٱللَّهَ ٱلَّذِي يَتَوَفَّىٰكُمۡۖ وَأُمِرۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١٠٤ وَأَنۡ أَقِمۡ وَجۡهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفٗا وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ١٠٥ وَلَا تَدۡعُ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَۖ فَإِن فَعَلۡتَ فَإِنَّكَ إِذٗا مِّنَ ٱلظَّـٰلِمِينَ ١٠٦ وَإِن يَمۡسَسۡكَ ٱللَّهُ بِضُرّٖ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَۖ وَإِن يُرِدۡكَ بِخَيۡرٖ فَلَا رَآدَّ لِفَضۡلِهِۦۚ يُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۚ وَهُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ١٠٧﴾ [يونس: ١٠٤-١٠٧].

ژباړه: «ای پیغمبره! ووایه چې ای خلکو که تاسي تر اوسه پوري زما د دين په باب په څه شک کي یاست، نو واورئ تاسي چې له الله څخه پرته د کومو بنده ګي کوئ زه د هغو بنده ګي نه کوم، بلکي یوازي د هغه خدای بنده ګي کوم چې ستاسي مړينه د هغه په واک کي ده. ماته حکم سوی دی چې زه له ایمان راوړونکو څخه اوسم. او ماته ویل سوي دي چې ته یوې خواته اوسه، خپل ځان سم دم پر دغه دین ټینګ کړه، او هیڅکله له مشرکانو څخه مه کیږه او له الله څخه پرته بله کومه داسي هستي مه بله چې نه ګټه در رسولای سي نه تاوان. که ته داسي وکړې نو له ظالمانو به یې. که الله تاپه کومه بخوله کي واچوي، نو له هغه پرته بل څوک نسته چې دا بخوله ایسته کړي، او که هغه ستا په هکله د کومي ښېګڼي اراده وکړي نو د هغه د فضل مخ اړوونکی هم څوک نسته. د هغه چې له خپلو بنده ګانو چاته خوښه سي خپل فضل باندي پېرزو کوي او هغه بخښونکی او رحم کوونکی دی».

په دې ډول نور آیتونه هم د «توحید في العبادات» او «توحید في الاستعانت» په هکله راغلي دي.

## د عبادت او استعانت يو له بله اړيکي

دغه عبادت او استعانت (مرسته غوښتل) يو له بله څه لازم او ملزوم هم دي. مشرکان د يوې آلهې لمانځنه د دې غلط فهمۍ پر بنسټ کوي، چې هغوی د خپل حماقت او ناپوهۍ له مخي هغه د دوی د ګټو او تاوانونو او ورانو وجاړو څښتنه او اختيار منه بولي او د خپلو اړتياوو او ستونزو اواروونکې يې ګڼي. لنډه دا چي د ګټي او تاوان عقيده د باطلو معبودانو د لمانځني لامل جوړيږي[1].

له دې امله په قرآن مجيد کي د توحيد د ښووني او تعليم په لړ کي په پلاوو پلاوو دا حقيقت په ګوته سوی دی چي مشرکان چي دکومو فرضي معبودانو عبادت او لمانځنه کوي، هغوی د هيڅ شي واک اختيار نه لري. قال الله تعالی:

﴿قُلِ ٱدۡعُواْ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَمۡلِكُونَ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا لَهُمۡ فِيهِمَا مِن شِرۡكٖ وَمَا لَهُۥ مِنۡهُم مِّن ظَهِيرٖ ۝٢٢﴾ [سبأ: ۲۲].

---

۱- دا هغه مهم تکی دی چي د هغه په هکله حضرت عمر فاروقرضي الله عنه په خپل فاروقي شان او سترتوب هله خبرورکړچي د حج پر مهال يې حجر اسود مچول. هغه د حجر اسود تر مچولو دمخه د خپل يقين اعلان وکړ او په لوړ آواز يې وويل: «إِنِّي أَعْلَمُ أَنَّكَ حَجَرٌ لَا تَضُرُّ وَلَا تَنْفَعُ» (صحيح بخاري). يعني: زه ښه پوهيږم چي ته صرف يوه ډبره يې نه موږ ته څه ګټه رسولای سې نه تاوان. په دې الفاظو سره هغه دا هم څرګنده کړه چي زموږ لخوا د حجر اسود په مچولو او د هغې په تعظيم کي او د بت پالانو، د دوی د بتانو سره په کړنه کي څونه بنسټيز توپير سته.

ژباړه: «ای پیغمبره! دغو مشرکانو ته ووایه چې هغه چې تاسي یې له الله پرته خپل معبودان ګڼئ راوبلئ. هغوی نه په آسمانونو کي د یوې ذرې په اندازه د کوم شي څښتنان دي، نه په مځکه کي. هغوی د آسمان او مځکي په څښتنولي کي څه برخه هم نه لري، له هغو څخه یو د الله مرستندوی هم نه دی».

بل ځای فرمايي:

﴿قُلِ ٱدۡعُواْ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُم مِّن دُونِهِۦ فَلَا يَمۡلِكُونَ كَشۡفَ ٱلضُّرِّ عَنكُمۡ وَلَا تَحۡوِيلًا ٥٦﴾ [الإسراء: ٥٦].

ژباړه: «دوی ته ووایه هغه معبودان وبلئ چې تاسي یې له لویه څښتنه پرته خپل کارجوړوونکی ګڼئ، هغوی له تاسي څخه نه کوم کړاو لیري کولای سي او نه یې بدلولای سي».

په دغو او د هغو غوندي نورو آیتونو کي که څه هم په ظاهره د مشرکینو د باطلو معبودانو بې وسي او عاجزي څرګندده سوې ده او یوازي شرک في الاستعانت رد سوی دی. خو لکه چې عرض سوه عبادت په عامه توګه د ګټې او تاوان له عقیدې او د استعانت له لاري رامنځته کیږي. له دې امله په دې آیتونو سره شرک في العبادات هم ردیږي او دغه ډول له کومو آیتونو څخه چې په سیخه توګه یوازي شرک في العبادات رد سوی دی د دغه یو له بله لزوم له امله له هغو څخه بالواسطه شرک في الاستعانت هم ردیږي.

په هر صورت د عربو مشرکین چې د قرآن مجید د توحید د پیغام لومړني مخاطبين وه، د هغو ستر او لومړۍ درجه شرک همدغه شرک في العبادت او شرک في الاستعانت وو. له دې امله چې د (لا اله الا الله) په ذریعه هغو ته د کوم توحید پیغام ورکړه سو د هغه

لومړنۍ غوښتنه له هغو څخه دا وه چې هغوی په عبادت او استعانت کې له لوی څښتن سره بل څوک شریک نه کړي او موږ خپله هم د هر لمانځه په هر رکعت کې د دې خبرې اقرار په دې الفاظو کوو:

﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ۝٥﴾ [الفاتحة: ٥].

ژباړه: «موږ یوازې همدا ستا عبادت کوو او یوازې له تا څخه مرسته غواړو».

## د توحید لومړی پوړی

په هر صورت الله تعالی په ذات او صفاتو کې تر واحد بللو وروسته په عملي ژوندانه کې دغه «توحید في العبادات» او «توحید في الاستعانت» د توحید هغه اړینه او لومړنی پوړی ده چې پر هغه باندې له ایمان راوړلو او د هغې له غوره کولو پرته څوک نه سي مسلمان کېدلای. او که څوک د توحید له دغسې پوړی څخه خالي لاس ولاړ، او په دغسې حال کې مړ سو چې د الله په ذات او صفاتو کې یې یا په عبادت او استعانت کې یې د لوی څښتن سره کوم بل څوک شریکاوه، نو الله پر هغه باندې جنت حراموي. قال الله تعالی:

﴿إِنَّهُۥ مَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ ٱلْجَنَّةَ وَمَأْوَىٰهُ ٱلنَّارُ﴾ [المائدة: ٧٢].

ژباړه: «چا چې له الله سره څوک شریک وګاڼه، الله پر هغه جنت حرام کړی دی او استوګنځی یې دوزخ دی».

او دا هغه ستر او عظیم شرک دی چې لوی څښتن یې هیڅ نه بخښي. قال الله تعالی:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ﴾ [النساء: ٤٨].

ژباړه: «الله يوازي شرک نه بخښي، او له دې پرته چي نوري هرڅونه ګناوي دي چي چاته يې خوښه سي وربخښي يې».

## د توحيد نوري غوښتني

بيا چي انسان د توحيد دغه لومړنۍ او ابتدايي غوښتنه تر سره کړه او دغي پوړۍ ته ورسېد، نو تر دې وروسته څه نوري ډېري مهمي غوښتني دي چي له هغو پرته توحيد نه بشپړېږي، مثلاً دا چي هغه پرېکړه وکړي چي زه به يوازي او يوازي د لوی څښتن پر لار او د هغه د حکم سره سم درومم، د هغه اطاعت به کوم او فرمان به يې وړم او د هغه په وړاندي به د خپل پلار او نيکه طريقې يا ملي دودونو يا د وخت د حکومت قانون يا د نړيوالو رايي يا د خپل ځان مصلحت او د زړه غوښتنو يا د نورو وګړو خوښي او رايي ته نه ګورم. بلکي د لوی څښتن د حکم په وړاندي به دغو ټولو شيانو ته شا کوم او يوازي به د هغه د حکم او رضا سره سم ځم. لنډه دا چي د توحيد د بشپړتيا لپاره اړينه ده چي بنده د خپل ټول ژوندپه هره برخه کي د الله پر حکم باندي د عمل کولو پرېکړه وکړي او په هر حال کي د هغه اطاعت او بنده ګي د خپل ژوندانه اصول جوړ کړي. په لاندي آيتونو کي د توحيد د دغي پوړۍ بيان راغلی دی:

﴿أَفَرَءَيۡتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ﴾ [الجاثية: ٢٣].

ژباړه: «آيا تا کله د هغه چا په حال باندي غور کړی دی چي هغه خپل نفسي خواهش خپل خدای وګرځاوه».

﴿قُلۡ إِنَّ هُدَى ٱللَّهِ هُوَ ٱلۡهُدَىٰۗ وَلَئِنِ ٱتَّبَعۡتَ أَهۡوَآءَهُم بَعۡدَ ٱلَّذِي جَآءَكَ مِنَ ٱلۡعِلۡمِ مَا لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٍ ١٢٠﴾ [البقرة: ۱۲۰].

ژباړه: «دوی (يهودو او عيسويانو) ته په کلکه ووايه چې سمه لار يوازې هماغه ده چې الله ښوولې ده او که ته له هغه علم څخه وروسته چې در کول سوی دی د هغو په خواهشونو پسې ولاړ سې، نو ستا هيڅ دوست او مرستندوی نسته چې د الله له نيوني دې وژغوري».

﴿قُلۡ أَنَدۡعُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُنَا وَلَا يَضُرُّنَا وَنُرَدُّ عَلَىٰٓ أَعۡقَابِنَا بَعۡدَ إِذۡ هَدَىٰنَا ٱللَّهُ كَٱلَّذِي ٱسۡتَهۡوَتۡهُ ٱلشَّيَٰطِينُ فِي ٱلۡأَرۡضِ حَيۡرَانَ لَهُۥٓ أَصۡحَٰبٞ يَدۡعُونَهُۥٓ إِلَى ٱلۡهُدَى ٱئۡتِنَاۗ قُلۡ إِنَّ هُدَى ٱللَّهِ هُوَ ٱلۡهُدَىٰۖ وَأُمِرۡنَا لِنُسۡلِمَ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٧١﴾ [الأنعام: ۷۱].

ژباړه: «ای محمده! له دوی څخه پوښتنه وکړه: آيا موږ له الله څخه پرته د هغه عبادت وکړو چې نه موږ ته ګټه رسولای سي، نه تاوان؟ او آياتر هغه وروسته چې الله موږ ته سمه لار را وښووله موږ پر خپلو پوندو شا ته (شرک ته) وګرځو ؟ آيا موږ خپل حالت د هغه چا غوندې کړو چې شيطانانو هغه په چول(بيديا) کې لار ورکی کړی وي او هغه اريان لالهانده ګرځي په داسې حال کې چې ملګري يې نارې ور وهې چې داسې راسه دا سمه لار ده؟ ووايه چې په حقيقت کې خو سمه لارښوونه يوازې د الله لار ښوونه ده. او د هغه لخوا موږ ته دا امر سوی دی چې د کايناتو د څښتن په وړاندې د اطاعت سر کښته کړئ».

﴿ٱتَّبِعُواْ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُمۡ وَلَا تَتَّبِعُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَۗ﴾ [الأعراف: ۳].

ژباړه: «ای خلکو! څه چې ستاسې د رب له لوري پرتاسې نازل سوي دي د هغو پيروي وکړئ او د خپل رب څخه پرته د نورو کالخوايانو

پیروي مه کوئ».

له ایمان لرونکو څخه د دغو آیتونو غوښتنه داده چي هغوی خپل ژوند یوازي د الله د لارښوونو تابع کړي او د ژوند په هره څانګه کي یوازي د هغه پر حکم ولاړ سي. خو رشتیا داده چي ډېرو کسانو لره د توحید دغه غوښتنه سخته او مشکله ده. اما شک نسته چي (لا اله الا الله) له دوی څخه دغه هم غواړي او له دې پرته د هغو ایمان او اسلام بشپړ نه ګڼل کیږي.

چو می‌گویم مسلمانم بلرزم که دانم مشکلات لا إله را

دغه راز له ایمان لرونکو څخه د توحید یوه بشپړتیایي او تکمیلي غوښتنه دا هم ده چي هغوی د لوی څښتن پر قادر او قیوم ذات باندي توکل وکړي او هغه ستر ذات خپل ساتونکی او ملجا اوماوی (پناه ځای) وګڼي. له هغه پاک او قادر ذات څخه د خیر او ښېګڼې هیله وکړي او یوازي د هغه له قهر او غضب څخه وبېرېږي[1] او د هغه په نصرت او مرسته باندي په باور سره د نړۍ د هیڅ ستر ځواک پروا ونه کړي. قال الله تعالی:

﴿وَلَا يَخۡشَوۡنَ أَحَدًا إِلَّا ٱللَّهَۗ﴾ [الأحزاب: ۳۹].

۱- څرګنده دي وي چي له غیر الله څخه هغه بېره د دغه توحید سره په تضاد کي ده چي د لوی څښتن له کامله قدرت او د ﴿فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ ١٠٧﴾ [هود: ۱۰۷] «بې‌شکه چي ستا رب بشپړ واکمن دی، چي څه غواړي کوي یې». له شان سره د نابلدتیا یا لږ اعتماد له امله وي. لکه چي په عامه توګه د ضعیف الایمانو وګړو حال دی. که نه د کوم بېروونکي مخلوق لکه مار یا کوم ظالم څخه په طبیعي توګه بېره خو انساني فطرت دی او دا د توحید منافي نه ګڼل کیږي.

ژباړه: «او له یوه خدایه پرته له بل هیچا څخه نه بېرېږي».

موحد که در پای ریزی زرش وگر اره می‌نهی بر سرش
امیر و هراسش نباشد زکس همین است بنیاد توحید و بس

لنډه دا چي دغه ټولي د (لا اله الا الله) له اهمو غوښتنو څخه دي، نو په هغه چا کي چي په دې هکله څونه کمی او نیمګړتیا وي، باید پوه سي چي توحید یې هغونه ناقص او نیمګړی دی او هغه به له دې امله په شرک اخته وي او په چا کي چي دغه خبري څونه بشپړي وي هغونه به یې د توحید پوړی بشپړه وي.

دلته به دا ویل هم پرځای وي چي په مادي پاله او خدای هېروونکې اروپا کي چي د اتل پالني، ملت پالني او هیواد پالني له ډوله کومي ګمراهۍ پیدا سوي دي او نوري هم رامنځته کیږي دا ټولي د شرک زېږندي دي او اسلام باید د (لا اله الا الله) په پلي کولو سره دغه ټول نوي «معبودان» له منځه یوسي.

د ملي اتلانو مطلقه او غیر مشروطه پیروي، د هغو مجسمې درول او د هغو د تصویرونو او مجسمو په وړاندي د تعظیم او عقیدت څرګندول، سلامي ورته کول، سر ورته ټیټول او هغو ته د ګلو ګېډۍ ایښوول او په ملي او ټولنیزو چارو کي د الهي قانون څخه بې پروایي او د خدای نه پېژندونکو مشرانو پیروي کول، او د اتل پالني او لارښود پالني داسي نور ټول صورتونه د (لا اله الا الله) د توحید د پیغام سره په قطعي توګه منافي او په ټکر کي دي. په اسلام کي دې چارو ته هیڅ ځای نسته.

پر دې بنسټ چي اوسمهال اروپایان ملت او وطن ته د «آلهو» کوم حیثیت ورکوي او د هغو د سترتوب او سپېڅلتیا سندري او

بـدلي وایـي او د دوی ملـي لارښـوونکي چـې د خپلـو ولسـونو او هیوادونو لوړتیا تـه د خپـل «نصـب العـین» او د «ژوندانـه د مـوخې» کومه درجه ورکوي او چې د حـق او باطـل او ښـو او بـدو څخـه یـې سترګي پټې کړي او ملت پالني او هیواد پالني ته یې د یوه بېل «دین» درجه ورکړې ده (او په مسلمانانو کې هم پـه ډېـره چټکـې سـره دغـه ټولي ګمراهۍ خپرېږي) نو دا ټولي خبري د اسلام لـه نقطۀ نظـره یـو ډول شرک باله سي. بلکې حقیقت دادی چې له بله اړخه د اروپا دغه نوي تراشلي بتان (اتل، ملت، هیواد او نور) د ډېرو تر پخوانیـو بتـانو ډېر فتنه پاروونکي دي. علامه اقبال رحمه الله څه ښه ویلي دي:

| | |
|---|---|
| فکر انسان بُت‌پرستی‌وبت‌گـری | هرزمـان درجسـتجوی پیکـری |
| بـاز طـرح آزری انداختـه اسـت | تازه‌تر پروردگاری ساخته‌اسـت |
| کآید از خون ریختن اندر طرب | نام‌اورنگ‌است‌هم ملک‌ونسـب |
| آدمیت کشته شد چون گوسـفند | پیش پـای ایـن بـت نـا ارجمنـد |
| ای که خوردستی زمینای خلیـل | گرمی خونـت زصـهبای خلیـل |
| بـر سـر ایـن باطـل حـق پیـرهن | تیـغ «لا موجـدَ إلا هـو» بـزن |

## د توحید لوړه پوړۍ

بیا په دې پسې د توحید بله لـوړه پـوړۍ داده چـې مـوږ یـوازې پـه لـوی څښـتن پـوري زړه وتـړو او هغـه جل جلاله خپـل رشـتینی محبـوب او مقصود او مطلوب وبولو. بیا د هغه په مینه او محبت کـې داسـې فنـا سو چې هر څه کوو یوازې او یوازې یې د هغه لپـاره وکـړو او د هغـه

له رضا پرته د هرڅه هیله له خپل زړه څخه وباسو[1]. په دې صورت کي باید زموږ هر عمل، یوازي لمونځ او روژه نه، بلکي زموږ خوراک، څیښاک، ناسته ولاړه، خندا او ژړا او په جامعو الفاظو زموږ مرګ او ژوند ټوله د لوی څښتن لپاره او یوازي د هغه د رضا په موخه وي. یعني زموږ حال احوال باید داسي وي چي:

﴿وَمَحۡيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٦٢﴾ [الأنعام: ١٦٢].

ژباړه: «زما ژوند او زما مرګ هرڅه د الله رب العالمین لپاره دي».

او د زړه آواز مو دا وي:

خواهم‌که همیشه درهوای‌توزیم    خاکی شوم و بزیر پای تو زیم
مقصودمن‌خسته در کونین تویي    از بهر تو میرم و برای تو زیم

---

۱- امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله په خپل یوه مکتوب کي د توحید د دغي پوړۍ په هکله لیکي: «توحید عبارت از تلخیص قلب است از توجه مادون او سبحانه تا زمانیکه دل را گرفتاری با ماسوا متحقق باشد اگرچه اقل قلیل باشد از ارباب توحید نیست».

او حضرت شیخ عبدالقادر جیلاني قدس سره په «فتوح الغیب» کي فرمایي: «لیس الشرك عبادة الاصنام بل هو متابعتك لهواك وان تختار مع ربك شیئاً سواه من الدنیا ومافیها والآخرة ومافیها وما سواه غیره فاذا ارکنت الی غیره فقد اشرکت به غیره» (فتوح الغیب اوومه مقاله). مطلب یې دادی چي یوازي بت پالنه شرک نه دی، بلکي دا هم شرک دی چي ته د خپل نفس د خواهش تابع سې او د خپل پروردګاره سره د دنیا یا آخرت کوم بل شی اختیار کړې. کله چي له لوی څښتن پرته دکوم بل چا لور ته ستا د غوښتني میلان وي نو ګواکي تا د هغه سره بل څوک شریک کړ.

## د بشپړ توحيد نخښي او پايلي

کله چي د لوی څښتن يوه بنده ته د توحيد دغه ستر او اعلی مقام ور په برخه سي، نو د هغه هر کار يوازي د لوی څښتن لپاره سي، ان که څه هم په ظاهره هغه خپل ځاني او کورنی کار کوي، هغه د خپلي اړتيا په احساس او د نفس په غوښتنه نه کوي، بلکي د لوی څښتن د حکم د عملي کولو په نيت او د هغه د رضا لپاره يې کوي. او دغه کار (يعني هر کوچنی او لوی کار د لوی څښتن د رضا لپاره ترسره کول) د لوی څښتن د دغه بنده لپاره ښېخي داسي طبيعي خبره وګرځي چي، لکه عام وګړي چي هرکار د خپلي اړتيا او د نفس د غوښتني له مخي کوي[1]. البته دا د توحيد او اخلاص ډېره لوړه او اعلی پوړۍ ده. دا د فنا مقام دی او دې مقام ته په رسېدو سره (لا اله الا الله) بشپړېږي. په حديث کي دي:

---

١- امام رباني مجدد الف ثانيؒ په خپل يوه مکتوب کي د اهل الله په هکله ليکي: «اولياء الله هرچه کنند برای حقﷻ مي‌کنند نه برای نفس خود، چه نفس ايشان فدای حق شده است. در خصوص اخلاص و تصحيح نيت ايشان را درکار نيست، نيت ايشان به فنا في الله و بقا بالله تصحيح يافته است. مثلاً شخصي که گرفتار نفس خود است هرچه مي‌کند برای نفس خود مي‌کند، نيت کند يا نه کند و چون اين گرفتاری نفس زائل شود و گرفتاری حقﷻ بجای آن نشيند ناچار هرچه کند برای حق کند، نيت دست دهد يا نه، نيت در محتمل درکار است در متعين احتياج به تعين نيست. ﴿ذَٰلِكَ فَضۡلُ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ٢١﴾ [الحديد: ٢١]». د پورتني آيت ژباړه: دا د الله فضل دی چا ته چي يې غواړي ورکوي يې او الله د ستر فضل څښتن دی.

«مَنْ أَحَبَّ لِلَّهِ وَأَبْغَضَ لِلَّهِ وَأَعْطَى لِلَّهِ وَمَنَعَ لِلَّهِ فَقَدْ اسْتَكْمَلَ الْإِيمَانَ» (رواه ابوداود عن ابي امامة).

د حدیث مطلب دادی: څوک چې د لوی ښښتن لپاره مینه، بغض، ورکړه او منع وکړي ایمان یې بشپړ کړ.

د لوی ښښتن کومو بنده ګانو ته چې د دغي برخي څه حصه ورسیږي، ګواکي د ټول جهان تر ټولو ستر دولت یې به برخه سو. دا د لوی ښښتن د لاري هغه «لارویان او مړونه» دي چې د هغه په لار کي خوښي او بخوله یو شان ورته ښکاري او ژوندیې تر مړیني زیات نه وي خوښ، د دوی د زړونو له تله تل دغه آواز راوزي:

زنده کنی عطای تو، وربکشی قضای تو دل شده مبتلای تو، هرچه کنی رضای تو

بلکي هغوی له لوی ښښتن څخه په پلاوو پلاوو هیلي کوي چي هغو ته بیا بیا ژوند ورکړي، څو په پلاوو پلاوو د لوی ښښتن په لار کي خپل ځانونه قربان کړي. حضرت رسول اللهﷺ د دې ولولې انځور په دې الفاظو کښلی دی:

«لَوَدِدْتُ أَنْ أُقْتَلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، ثُمَّ أُحْيَا، ثُمَّ أُقْتَلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، ثُمَّ أُحْيَا، ثُمَّ أُقْتَلَ» (طبراني)

یعني: زما زړه غواړي چې د لوی ښښتن په لار کي مي شهید کړي او بیا مي ژوندی کړي او بیا زه شهید سم، بیا ژوندی سم او بیا شهید سم.

میخواهم از خدا به دعا صد هزاران جان تا صد هزار بار بمیرم برای تو

## د توحید په هکله اوسپنیز عزم او د انقلاب ځواک

دغه کسان د الست هغه مستان وي چي ستونزي او خطرې د دوی

لار نه سي ډېب کولای، بلکي هيڅ خطره هم په زړه کي نه ورتېرېږي:

عشق را از تيغ و خنجر بـاک نيسـت    اصل عشق از آب وباد و خاک نيست
در جهان هم صلح هـم پيکـار عشـق    آب حيـوان تيـغ جـوهردار عشــق
از نگــاه عشـــق حـــرا شـــق شــود    عشـق حـق آخـر سـراپا حـق شـود

د دې پاکبازانو سره چي کوم الهي ځواک مل دی د هغه زور څوک اټکلولای سي ؟ دغه د خدای د لاري مړونه او لارويان او د حق دا فقيران چي د الله له نامه او د (لا اله الا الله) له ځواک پرته بل څه نه لري، کله چي د خدای لپاره د مهال د ظالمانو او جابرانو سره ډغري وهل پيل کړي، نو ستر ستر فرعونان او نمرودان له دوی څخه وډارېږي او اندامونه ې په رېږد سي:

بـا سـلاطين مـی فتـد مـرد فقيـر    از شـــکوه بوريـــا لـــرزد ســـرير
از جنون می افگند هـوی بـه شـهر    وارهانــد خلــق را از جبــر وقهــر
قلب او را قوت از جذب وسلوک    پـيش سـلطان نعـرۀ او «لاملـوک»

څنګه چي د لوی څښتن دغو بنده ګانو خپله هستي هېره کـړې او چي هرڅه کوي يوازي يې د خدای لپاره او د هغه لخواترسره کـوي، نو لـه دې املـه لـوی څښـتن د دوی اقـدامات اوکړنـي خپـل ځـان تـه منسوبوي او بيا عزت ورپه برخه کوي. په يوه قدسي حديث کي دغـه حال داسي تعبير سوی دی:

«حَتَّى أُحِبَّهُ فَإِذَا أَحْبَبْتُهُ كُنْتُ سَمْعَهُ الَّذِي يَسْمَعُ بِهِ وَبَصَرَهُ الَّذِي يُبْصِرُ بِهِ وَيَدَهُ الَّتِي يَبْطِشُ بِهَا وَرِجْلَهُ الَّتِي يَمْشِي بِهَا» (بخاري).

د دې صحيح حديث مطلـب دادی چـي ځيـني بنـده ګـان د قـرب الهي د مقاماتو په طی کولـو سـره هغـه مقـام تـه رسـيږي چـي د دوی سترګي او د دوی لاسونه نـور د دوی نـه وي، بلکـي څنګـه چـي هغـه

یـوازي د خـدای لپـاره کـارول کیـږي لـه دې املـه د دوی دغـه ټـول ځواکونه ګواکي د لوی څښتن وي. خو دا يې مطلب نه دی چي نعوذ بالله دغه وګړي خدای وګرځي یا خدای د هغو یوه برخه سي.

دا د لوی څښـتن هغـه ځـانګړي بنـده ګـان دي چي په اړه يـې پـه حدیث نبوي کي راغلي دي: «لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللَّهِ لَأَبَرَّهُ». یعني کـه دوی په لوی څښتن لوړه وکړي، نو لوی څښتن د دوی لوړه پوره کوي.

کاشکي موږ هم د (لا اله الا الله) د دغه مقام د حقیقت، د هغه دجلال او قوت او د هغه د نورو چارو سره لږ څه بلد سوي وای.

***

د توحید دغه پوړۍ چي له هغې څخه د بنده موخه او مطلـوب لـه حق تعالی پرته بل څه نه بلل کیږي که څه هم عامه نه ده او ایمـان او اسلام یا نجات په هغې اړه نه لري، بلکي دا صرف د ایمان د بشپړتیا پوړۍ باله سي[1]، لکه چي د ابوامامه د مخکـي ذکـر سـوي حـدیث د «فَقَدْ اسْتَكْمَلَ الْإِيمَانَ» لـه الفـاظو څخـه څرګنـدیږي، خـو پـه دې کـي شک نسته چـي دا دونـه سـتر ه نېکمرغـي ده چـي کـه ټـول ځانونـه او عمرونه وخوړل سي او د دنیـا ټـول خوندونـه او راحتونـه د تـل لپـاره قربان سي او دغه نېکمرغي په لاس راسي بیـا بـه هـم آسـانه پـه لاس راغلې وي. البته چا چي پـه لاس نـه وي راوړې ډېـر بدمرغـه بـه وي. خو د دې لاري د عارفـانو وینـا ده چـي کـه د دې نېکمرغـۍ د لاسـته

---

۱ - حضرت امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله په یوه مکتوب کي څرګنده کړې ده: «واین قسم نفی آلهه، متکثره نمودن و از نفی مقصودیت به نفی معبودیت غیر آمدن، شرط کمال ایمان است که به ولایت مربوط است».

راوړلو هڅه په مينه او رشتينولي سره وي او هلي ځلي پـه سـمه توګـه په لار واچول سي، نو د هغې ترلاسه کول دونه ډېري ستونزي هم نـه لري چي موږ يې هيله او کوښښ هم ونـه کـړای سـو. بلکـي د همـت څښتنانو ته لار پرانيستې ده او رشتيني طالبان پخپله لـوی څښـتن پـه خپل رحمت خپل لوري ته وربولي.

دغه رحيم او کريم ذات پر خپله ذمه ليکلي دي:

﴿وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا لَنَهۡدِيَنَّهُمۡ سُبُلَنَاۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٦٩﴾ [العنكبوت:٦٩].

ژباړه: «کوم کسان چي زموږ لپاره هلي ځلي وکړي هغو ته به موږ خپلي لاري ور وښيو او باور دی چي الله د نېک چارو ملګری دی».

په هر حال که د لوی څښتن پر لور تله په رشتيا وي او هلـي ځلـي او ښندنه لکه څنګه چي ښايي او په سمه طريقه وي، نو بيا د محروم پاته کېدو او بې برخيتوب څه سبب نسته. په لاندي شعر کي چي څه ويل سوي دي د سنة الله ډېر ښه تعبير يې کړی دی:

در حضرت ما دوستي يکدلـه کـن  هرچيز که غير ماست آنرا يله کـن
يک صبح به اخلاص بيا بر درمن  گــر کــار تــو نيايــد گلــه کــن

## د بشپړ توحيد تر مقامه د رسېدو لومړنی نصاب

ستاسي لخوا به د موخي د دغه پړاو لوري ته د تلو لپاره ډېره غوره لار دا وي چي د دې پړاو کوم بلد او د هغه کوم لار ښود يې ستاسـي لپاره غوره کړي، خو زموږ غوندي مبتديانو لپاره عمـومي تـدبير چـي په هغه کي ان شاء الله کومـه خطـره او خرخښـه نسـته او د دې لاري عارفانو ويلی او ليکلی دی دا دی چي دا حقيقـت پـه پـام کـي ولـرئ

چې: «له لوی څښتن پرته زه بله موخه او مقصد نه لـرم». د دغـې (لا اله الا الله) د کلمې ذکر ډېر وکړئ؛ یعنې پرله پسې او په تکرار سره د زړه او ژبې آواز یو کړئ، (لا اله الا الله) د دې خبـرې سـره یـو ځـای چې له الله پرته بله موخه او مطلب نه لرم زیات وواياست، نو ان شاء الله دغه کیفیت به رامنځته سي او که لوی څښتن غوښـتې وه پـه دې هکله به پر مختګ وکړئ[۱].

پوهاوی: په پورتنیو کرښو کې چې څه وویل سول، هغه باید د دغه ستري موخې او عظیم مقصد، یعنې «توحید» او «اخلاص» د ستر مقام دترلاسه کولو بشپړ نصاب و نه ګڼل سي. دا د دې لارې لارښوونکو مازې د کار د پیل لپاره ویلي او لیکلي دي. دا ګواکې صرف په دې لار کې بسم الله ده. که نه د دې لارې د تلو لپاره د یوه اخلاص مند بنده لارښوونې او څارنې ته اړتیا ده. هغه د سالک د حالاتو په پام کې نیولو سره په هره موقع اوهرپړاو کې سمې سلامشورې ورکولای سي، بلکې د فن امامانو څرګنده کړې ده چې د «زړه د تزکیې» او د «قرب او اخلاص» مقام ته د رسېدو په هکله چې ذکر کوم اغېز لري هغه هم (د بېلو بېلو لاملونو پر بنسټ چې دلته

---

۱- امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله په خپل یوه مکتوب کې لیکي: «در تحصیل این دولت مناسب حال سالک معنی کلمهٔ طیبه (لا اله الا الله) لامقصود الا الله است. چندان تکرار این کلمه باید که از معبودیت غیر نامی ونشانی نه ماند و مراد جز او تعالی هیچ چیز نه بود».
دغه راز په بل مکتوب کې فرمايي: «ملتزم ذکر نفی واثبات باشید وجمیع مرادات را بتکرار این کلمه طیبه از ساحت سینه بر آید تا مقصود ومطلوب ومحبوب جز یکي نباشد».

يې د تفصيل ځای نسته) د يوه صاحب الحاله شيخ د تلقين او څارني له امله او صحبت له برکته ډېر قوي کيږي، که څه هم د ذکر په اخروي اجر او ثواب کې د هغه له وجهې کوم ځانګړی کمښت او زياتوب نه راځي[۱].

په هر صورت په دې لار کې د لاري او طريقې د کوم خبر کس لارښوونه او صحبت تقريباً له ضروورياتو څخه ګڼل کيږي. له دې پرته د «رشتياني او حقيقي اخلاص» حصول او په هغه کې استقامت، لکه چې د دې لاري تجربه کارو ليکلي دي د اخص الخواصو په برخه کيږي. چې دا له استثنا وو څخه باله سي. علامه اقبال رشتيا ويلي دي:

دين نگردد پخته بی آداب عشق          دين بگير از صحبت ارباب عشق
ظــاهر او ســوزناک وآتشــين          بــاطن او نــور رب العــالمين

تر دې ځايه د (لا اله الا الله) د معنا او د توحيد د پوړيو او د هغه د متعلقاتو بيان وو. د دې بحث په پای کې د دې مبارکي او مقدسي کلمې د ستر توب او اهميت په هکله د رسول اللهﷺ څو حديثونه ليکو. يقيناً چې د دې کلمې په عظمت او سترتوب تر رسولﷺ بل هيڅوک زيات نه پوهيږي:

۱- د احاديثو په شپږګونو کتابونو او نورو کې له حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه يو مشهور حديث روايت سوی دی چې لومړی برخه يې داسي ده:

«الْإِيمَانُ بِضْعٌ وَسَبْعُونَ أَوْ بِضْعٌ وَسِتُّونَ شُعْبَةً فَأَفْضَلُهَا قَوْلُ لَا إِلَهَ إِلَّا

۱- وګورئ مکتوبات امام ربانی، پينځه ويشتم ليک، دريم ټوک.

اللَّهُ».

یعني: د ایمان څه له پاسه اویایا څه له پاسه شپېته څانګي دي، په هغو کي ډېره غوره او ښه څانګه د (لا اله الا الله) ویل دي.

۲- دغه راز له حضرت ابو هریرهؓ څخه په مسند احمد، معجم طبراني او نورو کي یو بل حدیث داسي روایت سوی دی:

قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «جَدِّدُوا إِيمَانَكُمْ». قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَكَيْفَ نُجَدِّدُ إِيمَانَنَا. قَالَ: «أَكْثِرُوا مِنْ قَوْلِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ».

یعني: رسول اللهﷺ وفرمایل: خپل ایمانونه نوي او تازه کړئ. له صحابه وو څخه چا ورته وویل: ای د خدای رسوله موږ خپل ایمانونه څنګه نوي کړو ؟ هغه ورته وفرمایل: (لا اله الا الله) ډېر ډېر وایاست.

۳- له حضرت جابرؓ څخه یو مشهور حدیث ابن ماجه، نسائي او نورو روایت کړی دی چي رسول اللهﷺ وفرمایل:

«أَفْضَلُ الذِّكْرِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ». یعني: په ټولو اذکارو کي د (لا اله الا الله) ذکر ډېر غوره دی.

٤- له حضرت ابو سعید خدريؓ څخه یو قدسي حدیث نسائي، حاکم، بیهقي او نورو روایت کړی دی چي په وروستۍ برخه کي یې راغلي دي چي لوی څښتنﷻ د موسیؑ د یوې پوښتني په جواب کي وفرمایل:

«لو أن السماوات السبع والارضين السبع وضعت في كفة ووضعت لا إله إلا الله في كفة لرجحت بهن».

یعني: که اووه آسمانونه او اووه مځکي په یوه پله کي کېښېښول سي

او (لا اله الا الله) په بله پله کي کښنيښول سي نو د (لا اله الا الله) پله به پر درنه سي.

لا اله الا الله محمد رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم

## د کلمې طیبې دوهمه برخه:
## د حضرت محمد ﷺ رسالت (محمد رسول الله)

### حضرت محمد ﷺ د الله جل جلاله رسول دی

تر توحید وروسته د اسلام بل بنسټ د سیدنا حضرت محمد ﷺ پر رسالت او پیغمبرۍ ایمان راوړل او پر دې خبره شهادت دی.

د رسالت په حقیقت او د پیغمبرۍ په منصب د پوهېدو، په تېره چې په دې لړ کې بیا حضرت محمد ﷺ ځانګړی مقام لري، په دې باندې د پوهېدو لپاره باید لاندې خبرې په ذهن کې کښېنول سي.

۱- د (لا اله الا الله) په ویلو سره موږ د توحید شهادت ورکړ او د خپل دې اعتقاد او ایمان اعلان مو وکړ او پر دې حقیقت مو اقرار وکړ چې الله تعالی زموږ معبود دی. ځکه نو موږ یوازې او یوازې د ده عبادت کوو او دی زموږ څښتن او رشتیانی واکمن دی. ځکه نو یوازې او یوازې د هغه حکم منو او دی زموږ موخه او د ده رضا ترلاسه کول زموږ نصب العین او د ژوندانه مقصد دی، د ده لپاره ژوند کوو او د ده لپاره سر ورکوو.

۲- خو لکه چې څرګنده ده دغه ټولي چاري هله ترسره کېدای سي چې موږ ته د لوی څښتن د عبادت سمه طریقه معلومه وي او د هغې په هغو احکامو هم پوهېدلي اوسوکوم چې موږ کړنه په کوو. دغه راز د لوی څښتن د رضائیت او نه رضائیت په

اصولو او موجباتو هم باخبر اوسو او د هغه د نژدېکت په لارو هم بلدتيا ولرو. نو زموږ د دې اړتيا د ليرې کولو لپاره لوی ښتن د دنيا له هماغه پيله څخه د نبوت او رسالت سپېڅلې لړۍ را روانه کړې او د دغو چارو د ښوونې لپاره يې په بېلو بېلو مهالونو او په بېلو بېلو ملکونو کې بېلو بېلو ولسونو ته خپل استازي او رسولان لېږلي دي. هغو په خپلو مهالونو کې خپلو خپلو امتونو ته الله تعالی ښه ورپېژندلی، د توحيد درس يې ورکړی او د لوی ښتن د ذات او صفاتو او د مبداء او معاد په اړه يې صحيح عقايد ورته تلقين کړي دي. همدا راز يې د لوی ښتن د عبادت سمې لارې ورښوولې او د معاملو او ټولنيز ژوندانه په هکله يې د لوی ښتن احکام او قوانين تر هغو رسولي دي او د الهي رضا او د هغه د نژدېکت پر لور تلونکې لارې يې ور ته روښانه کړې دي. پر دوی ټولو دې صلاة او سلام وي.

٣- خو له نن څخه دوه دوه نيم زره کاله وړاندې چې په نړۍ کې استوګن ولسونه يو له بله ليرې او بېل بېل په خپلو خپلو سيمو کې مېشت وه او د نړۍ بېلو بېلو برخو ته تله راتلل د اوس غوندې آسانه نه وه، له دې امله د بېلو بېلو ملکونو د ولسونو په مزاج او احوالو کې ستر توپير ليدل کېدی، نو تر دغه مهاله چې څونه پيغمبران د لوی ښتن له لورې راتله هغو به خپلو خپلو سيمو ته او خپلو ولسونو ته د لوی ښتن لارښوونې راوړلې. دغه راز تر دغه مهاله د عامو وګړو دننۍ وړتياوې هم نيمګړې وې چې په دې توګه ګواکې انسانيت لويښت ته نه وو

رسېدلی او د وړوکتوب په حال او مهال کې وو. له دې امله يې د يوه کامل او مکمل دين د زغم او تحمل وړتيا نه درلوده. نو دغو ولسونو ته چې لوی ښتن د دغو پيغمبرانو په ذريعه کوم احکام او قوانين لېږل په هغو کې د دغو ولسونو د ځانګړو مز اجونو او احوالو په پام کې نيولو تر څنګ د هغو د ننني وړتياوي او د زغملو پولي او کچې هم په پام کې نيول سوي وې. له دې امله د هغو د شريعتونو د احکامو په کمښت او زياتوب کې د لنډون او اوږدوالي (اجمال او تفصيل) او سختۍ او نرمښت له پلوه څه توپير موجود وو.

د نبوت او رسالت دغه لړۍ روانه وه او لوی ښتن پوهيږي چې د هغه له لوري څونه پيغمبران کومو ولسونو ته کوم کوم وختونه لېږل سوي دي. له هغو څخه د څو تنو پيغمبرانو نومونه د هغو د څه احوالو سره موږ ته په قرآن مجيد کې ويل سوي دي. او دا هم ورسره څرګنده سوې چې موږ پر دغو پيغمبرانو سربېره ډېر نور هم بېلابېلو ولسونوته لېږلي دي. موږ د دغو ټولو انبياوو او پيغمبرانو تصديق کوو، د دوی لارښووني او پيغمبري منو او د هغو درناوی او عزت خپل ديني فرض ګڼو. پر دوی ټولو دي د لوی ښتن درودونه او سلامونه وي.

٤- بيا له اوس څخه نژدې يونيم زر کاله دمخه چې د زرګونو پيغمبرانو د لارښوونو په پايله کې او د زرګونو کلونو فطري او تدريجي پرمختګ وروسته د انسانانو هغه دننۍ وړتياوي بشپړې سوې دکومو پر بنسټ چې لوی ښتن موږ پر دين مکلف کړي يو، ګواکې کله چې انسانان د خپلو وړتياوو

له پلوه د لويښت عمر ته ورسېدل او د لوى ښښتن په حكمت بالغه سره دغه مهال د نړۍ د بېلو بېلو ولسونو او بېلو بېلو ملكونو په منځ كي د پېژندني او راكړي وركړي اسباب او لاملونه رامنځته كړل چي له امله يې علوم او افكار او اخلاق او عادات له يوه ولسه بل ته او له يوه ملكه بل ته ولېږدول سول او د اسي لاملونه رامنځته سول چي د يوه ملك آواز بل ملك ته ورسيږي، لنډه دا چي په دې توګه هغه نړۍ چي پر بېلو بېلو ټوټو وېشل سوې وه «يوه نړۍ» وګرځېدل نو د دې وخت راغی چي د درستي نړۍ لپاره يو كامل مكمل دين او يو قانون او دستور ولېږل سي او د ټولو ملكونو او قومونو لپاره ترڅو دا نړۍ وي يو رسول واستول سي.

۵- نو د دې فطري غوښتني سره سم لوى ښښتن د عربو د ټاپو وزمي په مركزي ښار مكه مكرمه كي[۱] سروركاينات، رحمت

---

۱- كه تاسي د نړۍ د يونيمو زرو كالو مخكي نخشه او د هغه مهال د بېلو بېلو ولسونو تاريخ مخ ته كښېږدئ، نو به په ډېره آساني سره پوه سئ چي د درستي نړۍ د پيغمبرۍ لپاره د عربو يو وګړى څله وټاكل سو. لاندي حقايقو ته څه په غور ځير سئ:

(الف) د عربو ملك بېخي د آسيا او افريقا په منځ كي پروت دى او اروپا هم دغه ځاى ته نژدې ده، په تېره د هغې هغه سهيلي برخه چي هغه مهال زيات متمدن ولسونه پكښي مېشت وه، له عربو څخه دونه لري ده لكه هند چي ځني ليري دى. نو لومړى خو د دغه جغرافيوي وضعيت پر بنسټ د نړيوالي پيغمبرۍ لپاره هغه مهال دعربو ملك ډېر مناسب ځاى وو.

(ب) بل دا هم يو منلى حقيقت دى چي د دغه مهال په ټولو ولسونو كي عربو ځو داسي عادات او خصايل درلوده چي د دغسي ستر كار لپاره اړين

عالم حضرت محمد مصطفیﷺ د ټولې نړۍ او د هغې د ټولو ولسونو لپاره د وروستي او خاتم رسول او لارښوونکي په توګه ولېږی. او حکم یې ورته وکړ چې د ټولې نړۍ انسانانو ته پیغام ورکړه چې:

﴿قُلْ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا ٱلَّذِى لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ يُحْىِۦ وَيُمِيتُ ۖ فَـَٔامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِ ٱلنَّبِىِّ

---

وه، مثلاً د دوی زړونه او دماغونه ډېر صاف او ژوند یې ډېر ساده وو او د دوی په زړونو او دماغونو کې کومې فلسفې او فکري نظام یا تمدن ځای نه وو نیولی، څو د هغو له منځه وړل او پرځای یې نوی تمدن رامنځته کول ستونزمن سي. دغه راز دغه ولس د کوم سیاسي نظام په مرییتوب کې هم نه وو ښکېل سوی، چې له دې امله د لوړې حوصلې او ستر هوډ او عزم او غیرت او مړانې خاوندان وه. دغه راز دوی د سخت سرۍ او ستونزو زغملو له امله د خپل هوډ د ترسره کولو لپاره هر ډول قربانۍ ورکولای سوې. تاریخ پر دې ټولو حقیقتونو شاهدي ورکوي او د عربو لخوا د اسلام تر منلو وروسته چې دوی په نړۍ کې څه وکړه هغه زموږ د غه څرګندونې ډېرې ښې جوتوي.

(جـ) د دغه ولس ژبه هم ډېره پر مخ تللې وه، چې د یوه نړیوال سمونیز انقلاب لپاره د دغه مهال د نورو ژبو په پرتله ډېره مناسبه وه. اوس هم په دغه ژبه کې دغه ځانګړنه سته. البته څوک چې په عربي نه پوهیږي د هغې په دغه ځانګړنه پوهېدل به ورته ستونزمن وي، خو د چا چې دغه خوږه ژبه زده وي پوهیږي چې په هغې کې څوني ښېګنې سته او د یوه ستر دعوت د تبلیغ او ترجمانۍ لپاره څونه وړتیاوي لري.

په هرحال دا هغه لاملونه وه چې هر د پوهې څښتن په پوهیږي چې هغه مهال عرب او د هغو ملک د نړیوالې پیغمبرۍ لپاره څونه موزون وو.

﴿ٱلْأُمِّيِّ ٱلَّذِى يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَكَلِمَٰتِهِۦ وَٱتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٥٨﴾﴾ [الأعراف: ١٥٨].

ژباړه: «ووايه اى محمده! چي اى انسانانو! زه تاسي ته د هغه خداى استازى يم چي د آسمانونو او مځكي واكمن دى. له هغه پرته بل خداى نسته، هغه ژوند بخښي او هغه مرګ ورکوي، نو پر الله او د هغه پر اُمي نبي ايمان راوړئ چي الله او د هغه ښووني مني او د هغه پيروي غوره کړئ، هيله ده چي تاسي سمه لار ومومئ».

دغه راز څنګه چي انسانيت د استعداد او وړتيا له پلوه بشپړ او کامل سوى وو[1] او د کامل او مکمل دين زغم پکښي مونده سوى

١ - که د قرآن کريم دغه اعلان او دعوت هيڅ په پام کي هم ونه نيول سي بيا هم دا يو څرګند حقيقت دى چي اسلام يو داسي کامل او مکمل دين دى او د اسلام کتاب (قرآن کريم) داسي يو بشپړ کتاب دى چي هرمهال او د هر هيواد د وګړو د لارښووني لپاره کافي او شافي دى. له دې حقايقو څخه ان د اسلام دښمنان هم انکار نه سي کولاى. په دې منځ کي څونه انقلابونه وسول، څوني فلسفې او نظريې رامنځته سوې او څونه قوانين او نور نافذ سول؛ چي بيا بيرته دغه ټول لغو او ناسم جوت سول، نړيوالو رد کړل او د باطله کاغذونو غوندى يې ايسته وغورځول. خو د «نبي امي» وړاندي کړى سوى اسلام او قرآن کريم بالکل په خپل مخ پرزياتېدونکي ځواک سره پر ځاى پاته دى او مخ پر ترقي روان دى. اوس هم د ديارلسو پېړيو په تېرېدو سره د اسلام ډېر هوښيار دښمنان د هغه په يوه حکم کي لا هم ديوه کوچني بدلون اړتيا نه سي جوتولاى. د اسلام او قرآن کريم د بشپړتيا تر دې لابل ښه ثبوت دادى چي کوم کسان چي د هغو پيروي نه کوي هم اوس پرله پسې د هغو اصول مني او په خپل ټولنيز ژوند کي يې پلي کوي. په دې پاڼو کي په دې هکله تفصيل نه سي ورکول کېداى او نه سي ويل کېداى چي له الهياتو څخه

وو، نو یې د دغه نبي امي د ښوونو په ذریعه دیني نظام تر وروستۍ بشپړتیا پورې ورساوه او اعلان یې کړه:

﴿ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي﴾ [المائدة: ٣].

ژباړه: «نن ما ستاسې دین ستاسې لپاره بشپړ کړ او خپل نعمت مې پر تاسې پوره کړ»[١].

---

نیولې تر معاملاتو او ټولنیز ژوندانه پورې د نن پرمختللي قومونه څنګه له اسلام څخه ګټه اخلي او څنګه په چټکتیاسره د اسلام اصول د ځان کوي. رشتیا داده چې که اوس اسلام (کامل او مکمل اسلام) د نړۍ په کوم ګوټ کې په عملي بڼه پلی سي، نو په یقین سره به د نړۍ ډېر ځواکمن ولسونه د هغه تر سیوري لاندې راسي او د ځانونو او ټول انسانیت ژغورنه به په هغه کې ومومي. کاشکې مسلمانان او مسلمان حکومتونه خپلې دندې او ځانګړې مسؤولیتونه درک کړي.

١ – د قرآن کریم دغه ساتنه (او د هغه په ذریعه د اسلام د دین ساتنه) د اسلام د رشتیاني دین داسې یوه معجزه ده چې اوس هم د اسلام د منکرانو لپاره د لوی څښتن له لوري ډېر ستر حجت او خورا څرګند دلیل دی. په لږ غور سره څرګندېږي چې د قرآن کریم د بیان انداز او طرز د عامو انسانانو او ان د عربو له خبرو څخه بېل او ممتاز دی. په کوم جاهلي چاپېریال او تیاره فضا کې چې دغه قرآن نازل سو هلته تر دې لا د هغه مضامین وګړو ته معجز او اریانوونکي وه. جالبه لا داچې دغه قرآن پر یوه نالوستي او امي پیغمبرﷺ باندې نازل سوی دی. په دې هکله پخپله قرآن کریم فرمایي:

﴿مَا كُنتَ تَدۡرِي مَا ٱلۡكِتَٰبُ﴾ [الشورى: ٥٢].

ژباړه: «ته هیڅ نه پوهېدلې چې کتاب څه وي».

یعني هغهﷺ په خپل قلم پر یوه کلمه لیکلوهم نه وو قادر. که به یې څه لیکلو ته اړتیا پیدا سوه، نو په نورو به یې لیکل. بل دا چې قرآن خو د پنځو لسو پاڼو کومه وړه صحیفه نه ده، بلکي یو ډېرستر او ضخیم کتاب دی او هغه

٦- بيا د دين تر دې بشپړتيا وروسته د الهي حکمت دا غوښتنه وه چي دغه دين د تل لپاره د هر ډول تحريف او لاس وهني څخه وساتي او د هغه د ساتني داسي نظام يې رامنځته کړ چي نړۍ د تل لپاره له هغه څخه رڼا ترلاسه کړای سي. لکه چي د لوی څښتن په قدرت داسي اسباب رامنځته سول چي دغه وروستی بشپړ دين او د هغه صحيفه (قرآن کريم) د تل لپاره خوندي سو[1] او د کوم تحريف او لاسوهني او شک او شبهې ځای نه سو پکښي پاته. البته د دې ساتني د ضمانت اعلان لوی څښتن په قرآن کريم کي په دې الفاظو وکړ:

﴿إِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا ٱلذِّكۡرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ۝٩﴾ [الحجر: ٩].

---

مهال چاپ هم نه وو چي کوم کتاب يوځل چاپ سي او وساتل سي. بل دا چي په کوم ولس کي قرآن نازل سو په هغو کي د ليکلو او لوستلو دود هم کم وو. داسي هم نه وه سوې چي د هغه ډېري بشپړي نسخې په نبوي پېر کي چمتو سوي وي. نو د کوم کتاب سرګذشت چي دغسي وي او د ساتني اسباب يې دونه پر نشت حساب وي د هغه خوندي پاته کېدل چي معجزه نه وي نو به څه وي؟

١- د دې مطلب دا هيڅکله نه دی چي اسلام د انسانانو عقل او رايه بالکل بې ارزښته کوي او هغوی خامخا د پيغمبرانو د خبرو منلو ته اړباسي. په دې هکله چي اسلام کومه رويه غوره کړې ده هغه ډېره عاقلانه ده. اسلام وايي چي ته د پيغمبر د پېژندلو په هکله د بشپړ عقل، فکر او بصيرت څخه کار واخله. بيا چي تا تر غور او فکر کولو وروسته څوک د الله د رسول په توګه ومانه بيا نو د هغه هره لارښوونه د لوی څښتن له لوري وبوله او د هغو له نه منلو ډډه وکړه. که داسي ونه کړې، نو د دې معنا به دا وي چي تا تر اوسه لا هغه د رسول په صفت نه دی منلی او يا د رسالت په معنا نه يې پوهېدلی.

ژباړه: «موږ دغه ذکر(قرآن) نازل کړی او موږ په خپله د دې ساتندويان يو».

له پورته خبرو څخه به تاسي په دې هم پوهيدلي ياست چي څنګه چي دغه دين تر وروستي پړاوه بشپړ سوی دی او خوندي سوی هم دی نور اوس نړۍ کوم نوي نبي او نوي لارښووني ته هيڅ اړتيا نه لري، له دې امله که څوک تر محمدي نبوت وروسته د نبوت دعوه کوي هغه به پر لوی څښتن باندي مازي درواغ او افترا وي.

***

په مخکنيو کرښو کي چي څه ايماني او تاريخي حقايق ياد سول (کوم چي د عقل او نقل له مخي هم جوت او د منلو وړ دي) د هغو ټولو حاصل دادی: لوی څښتن چي د وګړو د لارښووني او د خپلو احکامو او خوښو څخه د هغو د خبروني په موخه د نبوت کومه لړۍ د نړۍ له پيل څخه روانه کړې وه حضرت محمدﷺ يې وروستۍ کړۍ ده يا د هغهﷺ د تمثيل سره سم د نبوت وروستۍ خښته ده. حضرت محمدﷺ د لوی څښتن باوري استازی او رشتيانی پيغمبر دی. د هغه پيغام د لوی څښتن پيغام دی او لار ښوونه يې د لوی څښتن لارښوونه ده. ځکه نو د هغه اطاعت او فرمان منل کټ مټ د لوی څښتن اطاعت او فرمان منل باله سي، او نافرماني يې د لوی څښتن نافرماني ده. ځکه څه چي هغه فرمايي، د لوی څښتن له لوري فرمايي او د هغهﷻ احکام موږ ته رسوي.

﴿مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدۡ أَطَاعَ ٱللَّهَ﴾ [النساء: ٨٠].

ژباړه: «چا چي د پيغمبر اطاعت وکړ، هغه دلوی څښتن اطاعت وکړ».

﴿وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلۡهَوَىٰٓ ٣ إِنۡ هُوَ إِلَّا وَحۡيٞ يُوحَىٰ ٤﴾ [النجم: ٣-٤].

ژباړه: «هغه (ستاسي ملګرى؛ محمد) له خپل خواهش څخه نه بږغيږي، دا خو يوه وحي ده چي پر هغه نازليږي».

گفتـــهٔ او گفتـــهٔ اللـــه بـــود گرچـه از حلقـوم عبدالله بـود

تر دې ځايه چي څه عرض سوه تاسي د هغو په رڼا کي هرومرو د رسالت د حقيقت او د هغه د موخي او منصب په هکله پوهېدلي ياست، او له هغو څخه درته څرګنده سوې ده چي د يو چا د لوى ښښتن د رسول په توګه منل او د هغه پر رسالت او پيغمبرۍ شهادت ورکول څه معنا لري او له دې امله د انسان پر ذمه څه لازميږي؟ دلته موږ ته لازمه ده چي د مسلمانانو د اوسني غفلت او ځان هېروني په هکله څه اړيني څرګندوني وکړو.

## د يو چا د رسول په توګه د منلو موخه او د هغه لوازم

تاسي چي څو ک «د لوى ښښتن د رسول» په توګه ومانه او پر دې مو شاهدي وويل نو تاسي په حقيقت کي د ځان لپاره او د خپلي رايي په اړه د درستي نړۍ او کايناتو په هکله څو ډېري مهمي او ستري پرېکړي وکړې. داسي پرېکړي چي تر هغو مهمي او تر هغو اوښتون راوړونکي او انقلاب زېږوونکي پرېکړي نوري نسته. تاسي ګواکي په خپل زړه او خپل دماغ او ژبه پرېکړه وکړه چي:

(الف) دغه نبي او رسول چي د نړۍ د مونـدونکي، د دې نړۍ د پيل او پاى او د مځکي او آسمانونو او دې ټولو کايناتو په هکله څه ويلي دي ګردسره حق او رشتيا دي. ځکه هغه دغه خبري د خپل غور او فکر څخه نه، بلکي د خبير او عليم خداى د ورښخښلي علم په مټ

کړي او د نړۍ ټولو فيلسوفانو، مفکرينو او ليکوالانو چې د هغه په خلاف څه ويلي او يا يې وايي ټول باطل، درواغ او چټيات دي.

(ب) دغه رسول چې د نه ليدونکو او نه اورېدونکو شيانو په هکله خبر ورکوي، مثلاً د ملايکو د موجوديت او د هغو د اوصافو او افعالو په باب څه وايي يا مثلاً د قيامت د راتلو او تر هغه وروسته د حشر او بيا په آخرت کي د حساب کتاب او جزا او سزا په هکله خبر ورکوي يا د جنت او دوږخ د موجوديت او بيا په جنت کي د ډول ډول نعمتونو او په دوږخ کي د ډول ډول دردناکو عذابونو په اړه تفصيل ورکوي دا ټوله حق دي، د هغو منل بيله چون او چرا اړين دي. ځکه هغه دغه ټولي خبري د لوی ښتن له لوري کوي، نو که د هغه له بيان سوو شيانو څخه ـ البته چي په يقين سره هغه بيان کړي وي ـ د کوم شي څخه څوک انکار وکړي نو له ايمان او ژغورني څخه بې برخي کيږي.

(جـ) دغه راز د عباداتو، اخلاقو، آدابو او تمدن او ټولنيز ژوند په هکله چي هغه کوم احکام بيان کړي دي او همدا راز چي يې د سياست او نړيوالو اړيکو په هکله څه اصول او قوانين ښوولي دي، لنده دا چي د وګړنيز ژوندانه په بېلو بېلو برخو کي چي يې څه لارښووني کړي دي، ټولي پرځای او د عملي کولو او پلي کولو وړ دي. د هغو په خلاف چي کومي کړني او لاري دود دي، که زموږ په کورونو او کورنيو کي دود وي يا زموږ پلار نيکه دود کړي وي يا د نړۍ کوم ستر او پرمختللي او متمدن قوم يا زموږ ولس او حکومت رامنځته کړي وي، په هر صورت ټولي ناسمي او انسانيت ته ضررناکي او مهلکي دي او ګردسره د له منځه وړلو وړ دي.

خلاصه، د لوی څښتن د رسول په صفت د یو چا منل که څه هم په ظاهره یوه وړه خبره ښکاري، خو په حقیقت کې ستاسې د خپل ځان او ټولې نړۍ په هکله مهمې پرېکړې پکښې نغښتې دي. نو چې څوک د کوم رسول د رسالت په اړه په خپله ژبه شاهدي ورکوي او پر دې بنسټ خپل ځان د هغه امتې ګڼي، خو زړه یې د دغو پرېکړو لپاره چمتو نه وي، نو په حقیقت کې هغه په ستره تېروتنه اخته سوی دی او د رسالت او پیغمبرۍ په موخه او مطلب نه دی پوه سوی.

د یوه نبي او رسول پر نبوت او رسالت باندې له ایمان راوړلو څخه مطلب دادی چې موږ د هغه هره لارښوونه حق او پر ځای وبولو او د هغه په خلاف هره نظریه او دود او دستور ناسم او باطل وګڼو. ځکه موږ هغه د الهي مرضیاتو د استازي په توګه خپل واجب الاطاعت لارښود منلی دی. په دې هکله په قرآن کریم کې څرګند بیان راغلی دی:

﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَرَجٗا مِّمَّا قَضَيۡتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسۡلِيمٗا ٦٥﴾ [النساء: ٦٥].

ژباړه: «ای محمده! ستا په رب قسم چې دوی هیڅکله هم نه مومنان کیږي. تر څو چې تا په خپل منځې شخړو کې د پرېکړه کوونکي په توګه ونه مني. بیا چې ته څه پرېکړه وکړې پر هغې باندې په خپلو زړونو کې څه خوابدې احساس نه کړي؛ بلکې سر تر پایه یې په خوښې سره ومني».

په هر حال د نبي او رسول د لارښوونو تر منلو وروسته بیا «مومن» ته د غور او فکر او ترجیح او انتخاب واک اختیار نه پاته کیږي، بلکې په دې صورت کې د هغه کار د لارښوونو په بشپړه منل او د هغو په پلې کولو بوختېدل دي. البته دغه منل صرف قانوني او

جبري نه، بلکې د زړه له کومې منل دي، چې دا د ايمان شرط باله سي.

د نبي او رسول حيثيت د نړۍ د عامو مصلحينو او لارښوونکو غوندي نه وي، چې د مصلح او لارښود په توګه د هغه د خبرو د منلو سره سره يې د خبرو په منلو او پلي کولو کې څوک اختيار ولري. چې که بالفرض د هغه کومه خبره د مهال د مصلحت او غوښتني سره سمه نه وي يا غلطه وګڼل سي، نو ونه منل سي. بلکې د رسول حيثيت لکه چې مخکې وويل سول د لوی څښتن د رشتيني او باوري استازي دی، چې په اړه يې منل سوې وي چې هغه چې کومه لارښوونه کوي د لوی ځښتن لخوا يې کوي، نو له دې امله بايد د انسان رايي، جذبات، خوښي او غوښتني د هغه د لارښوونو تابع سي چې دا د ايمان شرط باله سي په قرآن کريم کې په څرګنده اعلان سوی دی:

﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ۗ وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًا مُّبِينًا ﴿٣٦﴾﴾ [الأحزاب: ٣٦].

ژباړه: «کله چې الله او د هغه رسول د کومې معاملې په هکله پرېکړه وکړي، بيا نو هيڅ يو مومن او هيڅ يوه مومنه دا حق نه لري چې د خپلې معاملې د پرېکړې اختيار ولري. او څوک چې له الله او د هغه له رسول څخه سر وغړوي په څرګنده ګمراهي کې ولوېدی».

په نبوي حديث کې تر دې لا په ډېره څرګندتيا ويل سوي دي:

«لا يؤمن أحدكم حتى يكون هواه تبعا لما جئت به» (شرح السنه).

يعني: له تاسي څخه څوک تر هغو نه سي مسلمان کېدلای څو

چي د هغه خواهشونه او غوښتني زما د راوړل سوو لارښوونو تابع نه سي.

په حقيقت کي د رسالت د منصب غوښتنه داده چي د پيغمبرانو هره خبره چي د وګړو د لارښووني لپاره يې فرمايي بيله چون او چرا ومنل سي او پلې سي.

دغه راز د پيغمبرانو د راتلو موخه په دې نه ترسره کيږي چي تاسي هغوی صرف د زړه له تله او په عقيده پيغمبر وګڼئ او د هغو په باره کي د نعتونو او صفتونو غزلي او قصيدې ولولئ. بلکي د پيغمبرانو له بعثت څخه موخه داده چي د هغو متابعت وکړئ او د هغو پر لارښوونو ولاړ سئ.

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ﴾ [النساء: ٦٤].

ژباړه: «موږ هر پيغمبر د دې لپاره لېږلی چي د خدای په حکم د هغه اطاعت وکړای سي».

نو د يوچا د لوی څښتن د رسول په توګه منل او د هغه پر رسالت شهادت ورکول، د خپل عملي ژوندانه په اړه هم په حقيقت کي پر دې خبره ژمنه او اقرار دی چي ما خپل ژوند د دغه پيغمبر د لارښوونو او شريعت تابع کړ او زه به د ده په پيروي کي ژوند کوم او د ده په پيروي کي به مرم. په قرآن کريم کي په څرګندو الفاظو اعلان سوی دی چي څوک د رسولﷺ له متابعته پرته لوی څښتن نه سي راضي کولای:

﴿قُلۡ إِن كُنتُمۡ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِي يُحۡبِبۡكُمُ ٱللَّهُ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۚ﴾ [آل‌عمران: ٣١].

ژباړه: «اى پيغمبره! خلكو ته ووايه چې كه تاسي په رشتيا له الله سره مينه لرئ، نو زما پيروي غوره كړئ، څو الله له تاسي سره مينه وكړي او ستاسي خطاوي دروبخښي».

نو تاسي د رسالت د منصب په اړه د قرآن كريم پورتنۍ څرګندوني او د هغو غوښتني او لوازم او پايلي لږ څه په ذهن كي دروګرځوئ او بيا فكر وكړئ چې په «كلمه شريفه» كي چې موږ (محمد رسول الله) په ژبه وايو او د هغهﷺ پر رسالت شاهدي وركوو، نو په دې هكله موږ خپلي دندي او مسؤوليتونه تر كومه ځايه تر سره كړي دي؟ په ژبه د كوم نبي او رسول پر رسالت شاهدي وركول او بيا په ټول ژوند كي د هغه پر مخالفو لارو په ډاډه سره تلل ايمان نه بلكي نفاق باله سي. اللهم احفظنا.

***

## د لوى ښتن د رسولﷺ سره مينه او محبت

د يوه شخصيت د «رسول الله» په توكه د منلو لـه لوازمـو څخـه دا هم دي چې په ټوله دنيا او مافيها كي تر ټولو زيات له هغه سـره مينـه او محبت وسي، يعني تر لوى ښتن وروسته بايد ترټولو هغه موږ ته غوره او محبوب وي.

لكه چې څرګنده ده د ښو سره مينه او محبت د انسان فطرت دى، نو څنګه چې انبيا او رسولان د ټولي نړۍ تر ښو ښه دي، بلكي د ټولو ښو سرداران او د ټولـو ښو او څرګنـدو ښـېګڼو او د ټولـو كمـالاتو او محاسنو درلودونكي دي او همدا دوى په نړۍ كي تر ټولو د انسان په وير شريک او همدرده هم دي، له دې امله د دوى سره تر ټولو زياتـه

مينه کول يو فطري کار دی او دغه محبت د مطلق اطاعت او بيله چون او چرا منلو ستونزه آسانه کوي.

انسان چي د چا سره مينه لري نو د هغه په اشارو تلل او د هغه په رنګ رنګېدل د هغه تر ټولو ستره هيله وي. په دې لار کي ډېري هم هغه ته ګلونه ښکاري، بلکي د محبوب په اشاره او د هغه د خوښۍ لپاره سرښندنه هم ورته آسانه سي.

عشق اگر فرمان دهد از جان شيرين هم گذر

عشق محبوب است و مقصود است و جان مقصود نی

مطلب د «ايمان بالرسول» د اصلي موخي بشپړتيا چي د «رسول اطاعت» دی هم د رسول په محبت ترسره کيږي. دغه خبره د دې حديث منشا ده:

«لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ» (بخاري او مسلم).

يعني: له تاسي څخه يو هم رښتيانی مومن نه سي بلل کېدای تر څو زه ورته تر اولاد، پلار او نورو ټولو وګړو ګران نه سم.

که تاسي د رسول الله سره رښتيانۍ مينه ولرئ نو لږ تر لږه به د هغې لازمي پايله داوي چي تاسي به د هغه ﷺ په خوښي او وير کي شريک اوسئ، يعني په کومو شيانو چي رسول ﷺ خوښېدی تاسي هم په هغو خوښ سئ او په کومو چي خوابدی کېدی تاسي هم په هغو خوابدي سئ. چي دا به ډېره ستره نېکمرغي وي. دغه راز به د رسوا لله ﷺ د جذباتو، اوصافو او اخلاقو رڼا هم پر تاسي لوېدلې وي، ځکه دا د محبت لازمي مېوه ده. په دې توګه تاسي خپل ځاني خويونه او عادتونه پرېږدئ او د رسول ﷺ د اخلاقو او شمايلو برکتونه

په ځان کې جذبوئ او دا د یوه امتي کمال او بشپړتیا ده، علامه اقبال وایي:

غنچه شو از شاخسار مصطفی گل شو از باد بهار مصطفی
از بهارش رنگ وبو باید گرفت بهرۀ از خُلق او باید گرفت
از مقام او اگر دور ایستی از میان معشر ما نیستی

## د ژباړن لنډه پېژندنه

**عبد المالك (همت)**

- د پلار نوم یې مولوي عبدالرزاق.
- د کندهار په سوزني کي زېږېدلی دی.
- د زېږېدو کال یې ۱۳۳۲ لمریز.
- په اسلامي او ټولنیزو علومو کي یې خصوصي زده کړې کړي دي.
- د نجیب د واکمن کېدو په لومړیو کي له هیواده مهاجر سو، لومړي پاکستان او بیا هند ته کډه سو.
- کله چي لا طالبان پر کابل نه وه واکمن سوي تر اوږدې کډوالۍ وروسته هیواد ته راستون سو او اوس په کابل کي استوګن دی.
- اوس په کور کي د کتابونو په لیکلو بوخت دی.
- تر اوسه یې لاندي آثار لیکلي دي:

۱- د همت چیغه (شعري ټولګه) په ۱۳۸۰ل.کال خپره سوې ده.

۲- سید جمال الدین افغاني اند او ژوند (ژباړه) په ۱۳۸۱ل.کال خپره سوې ده. په ۱۳۸۹ا.کال دوهم ځل خپر ه سوه.

۳- زموږ د قبلې تاریخ (دمکې مکرمې تاریخ) په۱۳۸۵.کال دوهم ځل خپور سو. په ۱۳۸۹ کال دریم ځل خپور سو.

٤- زموږ د نبي مېنه (د مدینې منورې تاریخ) په ۱۳۸۵ل.کال خپور سو. په ۱۳۸۹ کال دوهم ځل خپور سو.

٥- ادب او ادبي کره کتنه په ١٣٨٥ل.کال خپور سو.
٦- د مقالې ليکلو اصول په ١٣٨٥ل.کال خپور سو. په ١٣٨٨ کال دوهم ځل خپور سو.
٧- زموږ صحت او آخرت ته تاواني توکي په ١٣٨٦ل.کال خپور سو.
٨- پښتو معلم الحجاج (ژباړه) په ١٣٨٦ل.کال خپره سوه.
٩- پوپنا سوي ولسونه (ژباړه). په ١٣٨٦ل.کال خپره سوه.
١٠- زموږ د دښمنانو تور تاريخ او شومي موخي په نامه کتاب په ١٣٨٧ل.کال خپور سو.
١١- د آسيا نن او سبا په نامه (ژباړه) په ١٣٨٧ل.کال خپره سوه.
١٢- د ښځو د حج او عمرې لارښود په ١٣٨٨ل.کال خپور سو.
١٣- اسلام د دوه لاري پر سر (ژباړه) په ١٣٨٨ل.کال خپره سوه.
١٤- د حق او باطل جګړې، په ١٣٨٨ل.کال خپور سو.
١٥- د لوېديځ مشران وايي: اسلام او مسلمانان له منځه يوسئ.په ١٣٨٩ل.کال خپور سو.
١٦- د حق او باطل د جګړې په هکله (٢٥)مقالې (ژباړه) په ١٣٨٩ل. کال خپر ه سوه.
١٧- د حق او باطل په جګړه کي الهي سنت (ژباړه) په ١٣٨٩ل.کال خپره سوه.
١٨- راځي توبه وکاږو، د خپرېدو کار يې روان دی.
١٩- غرور او د هغه علاج (ژباړه) په ١٣٩٠ل.کال دوهم ځل

خپره سوه.

٢٠- د کلمې شريـفي حقيقت (ژبـاړه) لـومړی پـه ١٣٨٨ل.کـال خپره سوه. او س دا دی دوهم ځل خپره سوه.

- پر دې سربېره يـې د هيـواد پـه دننه او دبانـدي کي بېلـي بېلـي مقالې هم خپرې سوي دي.
- د ليکوال د ګرځنده تليفون لمبر:٠٠٩٣ ٧٠٠٣٠٠١٦٧
- د ليکوال د برېښناليك يا ايمېل آدرس:

**himmat_ afg@yahoo.com**